# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو پنځه څلویښتمه ګڼه د ۱۳۹۸ کال د چنګاښ میاشت



# اماني دوره؛

## د لومړني بانکنوټ خپرېدنه



## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینۍ خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او د هغوی فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضايي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگر: عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


بانکداری اسلامی؛ یکی از گزینهٔ های مهم در جهت رونق فعالیت های مالی

شورای عالی د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود

په افغانستان کې د ډالري اقتصاد مسئلې او اندیښنې

په افغانستان کې د سکې او بانکنوټ بهیر

د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ کنفرانس جوړ شو

هیئت افغانستان با هیئت صندوق بین المللی پول تدویر جلسه نمود

په بانکونو کې د امنیتي لګښتونو د راکمولو په اړه غونډه جوړه شوه

د خصوصي سکټور د پراختیا د کاري کمېټې غونډه جوړه شوه

د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ کنفرانس جوړ شو

شانگهای، برترین مرکز مالی بین المللی

مرکزي بانکونه له ټولنې سره څنګه اړیکه پیدا کوي

بانک‌ها؛ چرخه های اقتصادی را تسهیل می بخشند

په بهر کې د تولیدي توکو نندارتونونه، د اسعارو د راتګ یوه لاره

مجله بانک و دوازده سال فعالیت کاری

اقتصادي خبرونه

د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

د مالي پانګونې بسته به ۱.۵ میلیون دوامداره دندې رامنځته کړي

د مرمرو د ډبرې صادرات اقتصادي پرمختګ رامنځته کوي

نیروی انسانی، یکی از عوامل تولید



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# بانکداری اسلامی؛ یکی از گزینهٔ های مهم در جهت رونق فعالیت های مالی

در کنار بانکداری سنتی، بانکداری اسلامی که براساس فقه معاملات اسلامی و قوانین شرعی صورت می گیرد، یکی از گزینه های مهم جلب سپرده های راکد مردم و بکار انداختن آن در سایر بخش های اقتصادی جهت رشد و توسعه اقتصادی کشور بشمار میرود.

د افغانستان بانک در پهلوی سایر خدمات بانکی سنتی در تلاش است تا زمینه و فرصت بهتر را برای بانکداری اسلامی ایجاد نماید تا تجار، متشبثین و هموطنان ما بتوانند از مزایای بانکداری اسلامی در تجارت و کاروبار شان بهره گرفته و به نحوی در رشد اقتصادی کشور سهیم شوند.

تعدیل قانون بانکداری و جاگزینی بخش بانکداری اسلامی در آن، در کنار شاخه های بانکداری اسلامی در سایر بانکها؛ ایجاد اولین بانک اسلامی در کشور و تأسیس آمریت عمومی بانکداری و خدمات مالی اسلامی در چوکات د افغانستان بانک جهت نظارت از فعالیت های بانکداری اسلامی در بانکها از فعالیت ها و زمینه سازی هایی اند که د افغانستان بانک در جهت رشد و توسعه بانکداری در کشور تا هنوز انجام داده است.

بانکداری اسلامی می تواند با بهره گیری از وجوهی که در حال حاضر خارج از حدود و دامنه سیستم بانکداری سنتی قرار دارد، فعالیت های مالی را در سطح کشور بهبود و رونق بخشیده، زمینه دسترسی بهتر به قرضه را برای مردم فراهم نموده و سیالیت بازار های مالی افغانستان را هر چه بیشتر تقویت بخشد.

# شورای عالی د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود



شورای عالی د افغانستان بانک بتاریخ ۱ و ۲ سرطان سالجاری دومین جلسۀ نوبتی خویش طی سال مالی ۱۳۹۸ را تدویر نمود. جلسه تحت ریاست محترم خلیل صدیق رئیس شورای عالی و رئیس کُل د افغانستان بانک با حضور سایر اعضای محترم شورای عالی تدویر گردید. طبق اجنداء، گزارش عملکرد و دستاوردهای د افغانستان بانک طی سه ماه گذشته در عرصه های نظارت امور مالی، تطبیق سیاست پولی، چارچوب حقوقی، ثبات و استحکام نظام مالی، امور مدیریتی و سایر موضوعات مرتبط مورد بحث و ارزیابی قرار گرفت.

مهمترین موضوعات این مجلس قرار ذیل خلاصه می گردد.

- رئیس شورای عالی، در ابتداء وضعیت اقتصادی کشور در بخش های رشد اقتصادی، گزارش تطبیق سیاست پولی از ابتدای سال مالی ۱۳۹۸ الی اکنون ( عوامل تغییرات، وضعیت نرخ تورم، بیلانس تادیات، اهداف و چارچوب سیاست پولی و ارزی کشور، ابزار سیاست پولی، روند رشد پایه پولی، نرخ مبادله افغانی در مقابل اسعار) و وضعیت سکتور بانکی را مورد بحث قرار داد.
- شورای عالی د افغانستان بانک طی این جلسه مقررۀ حمایت از حقوق مشتریان در سکتور مالی را در پرنسیپ منظور نموده و آمریت نظارت امور مالی را مکلف ساخت تا مقررۀ متذکره را جهت اصلاح شکلی و ماهوی به دفتر مشاوریت حقوقی ارسال نماید.
- مبحث دیگر شورای عالی د افغانستان بانک طی این نشست را مقررۀ "بانکداری بدون نمایندگی" تشکیل میداد که پس از غور و بررسی و تبادل نظر روی مسودۀ آن، مقررۀ مذکور در پرنسیپ منظور گردید و به آمریت نظارت امور مالی وظیفه سپرد تا آنرا جهت اصلاح شکلی و ماهوی به دفتر مشاوریت حقوقی ارسال نموده و در هماهنگی با آمریت دفتر ریاست آنرا به هر دو زبان رسمی ترجمه نمایند.
- شورای عالی د افغانستان بانک با در نظر داشت تصاویب قبلی خود صدور جواز افتتاح بانک را الی اول حمل سال ۱۴۰۰هجری شمسی متوقف نمود.

قابل یادآوریست که شورای عالی د افغانستان بانک در این جلسه در کنار مسایل مهم بانکی و اقتصادی کشور، روی موضوعات اداری و عملیاتی نیز بحث و تبادل نظر نموده و تصامیم لازم در مورد اتخاد گردید.

# په افغانستان کې د ډالري اقتصاد مسئلې او اندېښنې

دويمه برخه

**په افغانستان کې ډالري اقتصاد**

افغانستان د يو کوچني آزاد اقتصاد لرونکی او په پراخه کچه پر وارداتو متکي هېواد دی. که څه هم افغانستان په تېره لسيزه کې يو شمېر پرمختګونه تجربه کړي خو لا تر اوسه يې د دوامداره اقتصادي ودې لپاره اړينې سرچينې موندلې نه دي. همدا ډول د هېواد کورني ناخالصه توليدات شاوخوا ۲۰ ميليارده امريکايي ډالرو ته رسېږي چې له امله يې زموږ هېواد له شديده مالي او سوداګريزه کسر سره مخ شوی دی. د ټولو اقتصادي ننګونو سره سره بيا هم افغانستان له ډالري اقتصاد څخه چې د لوی اقتصاد د ثبات په لاره کې يو ستر خنډ ګڼل کېږي، کار اخلي.

زموږ په هېواد کې ډالري اقتصاد د کورنيو جګړو پر مهال د پام وړ تيزوالی وموند. د ۱۹۹۰ لسيزې په وروستيو کې يو شمېر سياسي ګوندونو د خپلو لګښتونو د تمويل لپاره شخصي بانکنوټونه په پراخه کچه چاپ او بازار ته يې وړاندې کړل چې له امله يې د انفلاسيون نرخ د پام وړ زيات شو. په همدې ترتيب هغه مهال، د افغانۍ ترڅنګ د پاکستانۍ روپۍ او ايراني تومان په ګډون يو شمېر نور اسعار هم په پراخه کچه د مبادلې د وسيلې په توګه کارول کېدل. د تقاضا په برخه کې لږه ډاډمنتيا او بېلابېلو سياسي ګوندونو ته پريمانه مرستو په هېواد کې د ډالري اقتصاد د چټکتيا لپاره لاره هواره کړه. د يادولو وړ ده چې د کورنيو جګړو پرمهال د مالي او بانکي نظام نه شتون هم د ډالري اقتصاد په غوړېدا کې د پام وړ ونډه درلودلې ده. که څه هم د کورنيو جګړو په پای کې ډالري اقتصاد پياوړی شوی ؤ خو د بيارغونې د پروسې لپاره د نړيوالو پريمانه مرستو او له بهره څخه د افغان کډوالو د راستنيدلو له امله د بهرنيو اسعارو د امانتونو کچه په بې سارې توګه لوړه او ډالري اقتصاد لا ډېر پياوړی شو. سره له دې چې په ۲۰۰۲ کال کې د افغانستان بانک د افغانۍ د نوي بانکنوټونو په وړاندې کولو سره ونتوانيد چې په هېواد کې ډالري اقتصاد مهار کړي، خو د نوي بانکنوټونو په چاپولو سره پر ملي پيسو د خلکو لږ څه اعتماد پيدا شو.

په افغانستان کې ډالري اقتصاد د ۲۰۰۶ کال په اپريل مياشت کې تر ټولو لوړ نرخ يعنې ۸۱.۰۹ سلنې ته پورته شوی دی. دا اټکل د هېواد په ټوليزه بانکي امانتونو کې د بهرنيو اسعارو د امانتونو د سلنې له مخې ترسره شوی دی. همدا ډول ډالري اقتصاد په هېواد کې له يو لړ نوسانونو وروسته په ۲۰۰۹ کال کې خپل تر ټولو ټيټې کچې ۶۲.۲۷ سلنې ته راښکته شوی. په همدې ترتيب ډالري اقتصاد د انفلاسيون د لوړ نرخ، د پيسو د ارزښت د کمېدو، د بانکونو لخوا د ځينو بې غوريو او داسې نورو مهمو اقتصادي نا ډاډمنتياوو له امله له ۲۰۰۹ کال څخه وروسته کلونو کې يو ځل بيا پياوړی شو. د ۲۰۱۵ کال د اپريل مياشتې راهيسې

«

په هېواد کې د ډالري اقتصاد نسبت ۶۵.۹۳ سلنې ته رسېږي. نو ویلی شو چې امریکایي ډالر د افغانۍ ترڅنګ په یو غیر رسمي پولي واحد بدل شوی دی. له همدې امله په افغانستان کې یو شمېر اسعار په آزاده توګه په ګردښت کې دي چې حتی امریکایي ډالر د یوې واکمنې پیسې په توګه کارول کیږي چې د هېواد د دودیزه پیسو (افغانۍ) رول ته یې زیان رسولی دی. د هېواد د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د اسعاري امانتونو کچه ډېره لوړه ده، حال دا چې د افغانۍ کارونه ډېره لږه یا محدوده ده. یوازې دولتي اداري په هېواد کې له افغانۍ څخه د بودجې د اجراء او د مالیو او د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ورکړې په موخه ګټه پورته کوي.

په افغانستان کې د بانکي نظام له ټولیزه امانتونو سره د مېشته اشخاصو د اسعاري امانتونو پرتله




بالینو (Balino) او د هغه وخت نورو پوهانو په ۱۹۹۹ زیږدیز کال کې پراخه ډالري اقتصاد لرونکي هېوادونه داسې تعریف کړي: پراخه ډالري اقتصاد لرونکي هېوادونه هغه هېوادونه دي چې په اسعارو د امانتونو نسبت یې د ټولیزه امانتونو له ۳۰ سلنې څخه زیات وي. د دې تعریف پر بنسټ افغانستان هم د اسعاري امانتونو د۶۵.۹۳ سلنه نسبت په درلودلو سره د پراخه ډالري شوي اقتصاد په توګه پېژندل کیږي.

په هېواد کې د ډالري اقتصاد عمده لاملونه اقتصادي او سیاسي بی ثباتي، د افغانۍ او اسعارو (امریکایي ډالر) ترمنځ انفلاسیوني توپیر او د بهرنیو اسعارو د اخیستلو لپاره د معاملې نسبتاً ټیټ لګښتونه په ګوته شوي دي. همدا ډول په هېواد کې ډالري اقتصاد هغه مهال پراخوالی وموند کله چې هېوادوالو د ملي پیسو د ساتنې د لوړ لګښت له امله د هغه ساتلو ته زړه نه ښه کاوه.

د انفلاسیون نرخ په تېرو څو کلونو کې نسبتاً ټیټ وو، خو بیا هم په هېواد کې د ډالري اقتصاد کچه لوړه ده. په هېواد کې د انفلاسیون او د ډالري اقتصاد ترمنځ د اړیکو هر اړخیزه شننه او د دواړو متحولینو ترمنځ کمزوره اړیکې په لاندې ګراف کې ښکاره کیږي. په لاندې ګراف کې د انفلاسیون نرخ د ۲۰۰۶ کال په اپریل میاشت کې ۳.۵۹ سلنه او د ډالري اقتصاد کچه چې په همدې موده کې تر ټولو لوړې کچې ته رسیدلې وه، ۸۲.۹۳ سلنه ښودل شوې ده. حال دا چې په راتلونکي کال کې د انفلاسیون نرخ زیات او په هېواد کې د ډالري اقتصاد بهیر راکم شوی دی. په ورته وخت کې د ۲۰۰۹ کال په لومړیو کې دواړو (د انفلاسیون نرخ او د ډالري اقتصاد بهیر) سقوط وکړ او خپل تر ټولو ټیټې کچې ته ورسېدل چې د انفلاسیون نرخ د ډالري اقتصاد د کچې په پرتله ډېر ټیټوالی وموند. د ۲۰۰۹ کال راپدېخوا د انفلاسیون نرخ او ډالري اقتصاد دواړو نسبتاً ورته بهیر درلودلی دی. شته شمېرې ښکاره کوي چې په هېواد کې د ډالري اقتصاد او انفلاسیون ترمنځ اړیکه ۰.۳۶۱ ته رسیږي چې دا شمېره ډېره ټیټه ګڼل کیږي.

د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د اسعاري امانتونو د سلنې ونډه




د ۱۹۹۸ او ۲۰۰۳ کلونو ترمنځ ځینې اقتصاد پوهان د بېلګې په توګه ایزي (Ize) او لیوي (Levy) استدلال کوي چې خطر نه منونکي پور اخیستونکي او پور ورکوونکي په بهرنیو »

اسعارو خپلو تړونونو ته لومړیتوب ورکوي، دا ځکه چې د اسعارو د پېرلو ځواک د کورنۍ پیسو په پرتله ښه وي، له همدې امله په ډالري اقتصاد کې د مبادلې د نرخ نوسانونه یو عمده لامل ګڼل کېږي. باید ووایو چې زمونږه پایلې بېلابېل اړخونه لري. یو یې دا دی چې په هېواد کې د مبادلې د نرخ نوسانانونه د ډالري اقتصاد بنسټیز لامل نه دی. زمونږ د شننو پر بنسټ، د ډالري اقتصاد او د مبادلې نرخ ترمنځ دوه اړخیزه اړیکه د تمې سره سم منفي(۰.۰۹-) ده، چې هومره د پام وړ نه ده.




### د غیر رسمي ډالري اقتصاد ګټې او زیانونه

د څېړنیز سند دا برخه د څېړنیزو موادو او منځپانګې د پایلو او مطالعاتو په پام کې نیولو سره د ډالري اقتصاد زیانونه او په هېواد کې د دې پدیدې اړوندې ننګونې تر بحث لاندې نیسي. د ډالري اقتصاد اړوند باالقوه اقتصادي لګښتونه په لاندې ډول دي.

### د ډالري اقتصاد اړوند لګښتونه

**د اسعارو نه مطابقت:** هغه اقتصادونه چې په پراخه کچه ډالري شوي دي د پوراینې د بیا ورکړې او د نقدینګۍ له خطرونو سره مخ کېږي چې دا وضعیت د مبادلې نرخ د نوسانونو له امله د مالي نظام د بې ثباتۍ په پایله کې رامنځ ته کېږي. کله چې یو بشپړ ډالري شوی اقتصاد له یو داسې بې ثباتۍ سره مخ شي چې د بانکي نظام د اړوند خطرونو په اړه اندېښنې پیدا کړي، نو په دې ډول حالاتو کې په کورنۍ پیسو د اسمي شتمنیو لپاره تقاضا او د کورنۍ پیسې ارزښت راکمېږي.

**د نقدینګۍ خطر:** په ډالري اقتصاد کې د بانکي نظام د امانتونو ستره برخه بهرني اسعار جوړوي. هر څومره چې د بانکونو لخوا کورنیو او داخلي سوداګریو ته په بهرنیو اسعارو پورونه ورکړل شي، په هماغه اندازه بانکي نظام د نقدینګۍ له خطر سره چې د مبادلې نرخ د نوسانونو په پایله کې رامنځ ته کېږي، مخ کېږي. د ملي پیسو د ارزښت د پام وړ کموالی د هغو کورنیو او داخلي سوداګریو پر مالي وضعیت چې عواید یې په کورنیو پیسو او پورونه یې په بهرنیو اسعارو ترسره کېږي، فشار راوړي چې د دغې مودې په پایله کې په اسعارو د ورکړل شویو پورونو د بېرته ورکړې ځواک کم او د بانکي نظام مالي وضعیت کمزوری کېږي.

**د پوراینو د نه ورکړې خطر:** د نقدینه ګۍ خطر ته ورته د اسعارو د ناجوړښت (ناتطابق) عمده لامل په یو ډالري اقتصاد کې د پوراینې د نه ورکړې خطر په ګوته شوی دی. د کورنیو پیسو د ارزښت په کموالي سره د بانکونو بیلانس شیټ له دوو اړخونو اغېزمن کېږي: لومړی، په ملي پیسو د شتمنیو پر ارزښت چې د بانکونو په بیلانس شیټونو کې ساتل کېږي، منفي اغیز کوي. دویم، د هغو پور اخیستونکو مالي وضعیت چې خپل عاید په ملي پیسو ترلاسه کوي، کمزوره کوي او په بهرنیو اسعارو د پورونو د بېرته نه ورکړې احتمال یې زیاتوي.

د کورنیو بانکونو مالي صورت حسابونه ښکاره کوي چې د هېواد د بانکي نظام سیالیت په ښه وضعیت کې قرار لري. اسعاري پوراینې د بانکي نظام د ټولیزه اسعاري امانتونو شاوخوا ۲۰ سلنه جوړوي. د نقدینه ګۍ دا ډول لوړه کچه د هر ډول نه وړاند ویل شوي ټکان په وړاندې چې د امانتونو د نه ورکړې په برخه کې د بانکونو د نه توانایي لامل کېږي، یوه ښه اتکاء جوړوي. سربېره پر دې، د مرکزي بانک د اسعاري زېرمو په پام کې نیولو او د بانکي نظام په اسعارو د نومول شویو پوراینو له ټولیزه ارزښت سره د هغه په پرتله کولو سره مرکزي بانک کولای شي چې له بانکي نظام سره د هر ډول شوني کړکیچ په

صورت کې د پور ورکونې د وروستي مرجع په توګه همکاري وکړي او د هغوي د نقدینګۍ خطر له منځه یوسي. د بانکي نظام د نقدینه ګۍ خطر او په افغانستان کې د اقتصادي او مالي ټکانونو خطر کولای شي اوسنی ثابت وضعیت په نامطلوب وضعیت بدل کړي، نو له همدې امله په اسعارو د امانتونو د اړونده نقدینه ګۍ د خطرونو د کنټرولولو لپاره د احتیاطي پالیسیو جوړول ډېر اړین ګڼل کېږي.

برعکس، د نقدینه ګۍ خطر ( پور د بیرته نه ورکړې خطر) د بانکي نظام لپاره یو نسبتاً جدي خطر دی. کوم پور اخیستونکي چې عاید په ملي پیسو او پورونه په بهرنیو اسعارو ترسره کوي، د مبادلې د نرخ له نوسانونو څخه زیانمن کېږي. که چیرته د بهرنیو اسعارو د ټولیزه امانتونو یوازې ۲۰ سلنه په پور ورکړل شوي وي، د بانکي نظام لپاره د پور د نه ورکړې خطر هومره جدي نه ګڼل کېږي. د مبادلې د نرخ نامطلوبه نوسانونه، د هېواد په بانکي نظام کې د مشتریانو د اعتباري سابقې د کتلو لپاره د اعتماد وړ تدبیرونو او د مشتریانو لخوا د وړاندې شویو تضمینونو لپاره د معیاري شرایطو نشتوالی لامل شوی چې په بانکي نظام کې د پور د بېرته نه ورکړې خطر زیات شي چې د دې وضعیت د کنټرولولو لپاره د هېواد د مرکزي بانک نږدې څارنې ته اړتیا لیدل کېږي.




**د پولي ضریب د عوایدو خسارې**

پولي ضریب د اسمي ارزښت او د چاپ د لګښت ترمنځ توپیر ته وايي. په غیر رسمي ډالري (قسمي ډالري) اقتصاد کې د دولت عواید د ملی پیسو (افغانۍ) د انواعیو د چاپ له امله هغه مهال راکمېږي چې د دې هېواد اوسیدونکي له بهرنیو اسعارو څخه د مبادلې د وسیلې په توګه کار واخلي. د پیسو لپاره د تقاضا د کچې په زیاتېدو سره په ډالري اقتصادونو کې د پولي ضریب عواید د پام وړ کموالی مومي. په پایله کې کولای شو ووایو چې د پولي ضریب د عوایدو خسارې د ډالري اقتصاد د سترو لګښتونو په ډله کې راځي.

مونږ د ارسمس (Erasmus)، لایکټر (Leichter) او مینکلیزي (Menkulasi) لخوا د وړاندې شوي طریقو په مرسته په ګردښت کې د اسعارو ونډه اټکل کړې ده. د ملي پیسې او بهرنیو اسعارو لپاره د ۱.۲۵ ورته پولي ضریب په ټاکلو سره مونږ شاوخوا ۴۷۶ میلیارده افغانیو اټکل کړی دی (د یادولو ده چې دا شمېره یوازې د ۲۰۰۲ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ په ګردښت کې د اسعارو د لوړې ونډې اټکل ښکاره کوي). په ګردښت کې د بهرنیو اسعارو د کچې د اټکل په پام کې نیولو سره زمونږ بل اټکل دا ښکاره کوي چې د بانکنوټونو د چاپ د عوایدو خساره د ۴۶۰ میلیارده افغانۍ معادل ده (د بانکنوټونو د چاپ د عوایدو د خسارې د اټکل د هر اړخیزې کړنلارې لپاره ملپاڼې ته مراجعه وکړئ).●

**ادامه لري**

# په افغانستان کې د سکې او بانکنوټ بهیر



**د لومړي ځل لپاره د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهی په دوره کې د مسکوکاتو تر څنګ بانکنوټ هم په راکړه او ورکړه او معاملو کې لار پیدا کړه. په ۱۲۹۸ هجري لمریز کال کې د افغانستان لومړنی بانکنوټ د کابلی روپیی په نوم خپور شو چې وروسته د افغانی په نوم ونومول شو.**

د مسکوکاتو او بانکنوټونو له پیدایښت څخه مخکې ټولې معاملې او راکړې او ورکړې د جنس په وسیله ترسره کیدلې چې جنس په جنس یا بارتر مبادله نومیده. له هغه ځایه چې د بارتر مبادله له زیاتو ستونزو سره مخ وه او د محصولاتو د تنوع، پرمختګونو او نویو لاسته راوړنو په پام کې نیولو سره د عامه خلکو د اړتیاوو تأمینونکې نه وه، قیمتي فلزاتو لکه، مسو، سپینو او سرو زرو د مبادلې د وسیلې په توګه په راکړې او ورکړي کې لاره پیدا کړه او د مبادلې بهیر یې لا اسانه او اغیزناکه کړ. دې بهیر د راز راز مسکوکاتو په ضربولو او د بانکنوټونو په چاپولو او خپرولو سره دوام موندلی چې له مالي پرمختللو محصولاتو سره یو ځای شوی او د مبادلې بهیر یې له بل هر وخت څخه ګړندی کړی دی.

په افغانستان کې معاملې او راکړې او ورکړې په بارتر توګه پیل شوې او په بېلا بېلو دورو کې له مختلفو مسکوکاتو څخه په معاملاتو کې ګټه اخیستل شوې ده. له دې سکو څخه یو شمېر د افغانستان له پولو بهر او یو شمېر هم د هېواد دننه ضرب شوي دي. هخامنشیان، باختری یونان، ساکانو، کوشانیانو، کیداریانو، ساسانیانو، د اسلام ظهور، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو، احمد شاه ابدالی، امیر عبدالرحمن خان، امیر حبیب الله خان، غازی امان الله خان، حبیب الله خان کلکانی، محمد نادر خان، محمد ظاهر شاه، محمد داوود خان، د خلق دموکراتیک ګوند، د افغانستان اسلامي دولت، د افغانستان اسلامي جمهوریت او ... دورو سکې د هغو سکو له ډلې څخه دي چې د تاریخ په مختلفو دورو کې د راکړې او ورکړې لپاره کارول شوي دي.

»

د لومړي ځل لپاره د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهی په دوره کې د مسکوکاتو تر څنګ بانکنوټ هم په راکړواو ورکړواو معاملو کې لار پیدا کړه. په ۱۲۹۸ هجري لمریز کال کې د افغانستان لومړنی بانکنوټ د کابلی روپیی په نوم خپور شو چې وروسته د افغانی په نوم ونومول شو. د ۱۲۹۸-۱۲۹۹ کلونو ترمنځ د یوه افغانی، پنځه افغانی، پنځوس افغانی او سل افغانی بانکنوټونه خپاره شول. څېړونکي باور لري له هغه ځایه چې د اماني دورې په بانکنوټونو کې، د بانکنوټ ارزښت په څلورو (پښتو، دري، اردو او ترکي) ژبو لیکل شوی دی، دا د دې ښکارندوی دی چې دا بانکنوټونه د افغانستان له پولو بهر هم د چلند وړ او په راکړه او ورکړه کې ترې ګټه اخیستل کېده.









د حبیب الله خان کلکاني په دوره کې، نوي بانکنوټونه چاپ نه شول، خو د امان الله خان د دورې يو شمېر بانکنوټونه هم د حبیب الله خان کلکاني له مهر سره د مبادلې په بهير کې شامل ول. د نادر خان د پاچاهۍ په دوره کې د بانکنوټونو چاپ ودرول شو او د تير په شان د سرو او سپینو زرو او نورو فلزونو له مسکوکاتو څخه په راکړه او ورکړه کې کار اخیستل کېده. د نادر خان په دوره کې د ګراف او چاپ نوي ماشینونه وارد شول خو د محمد ظاهر خان د پاچاهۍ پورې بانکنوټونه خپاره نشول.

په ۱۳۱۲ کال کې محمد ظاهر خان پاچاهۍ ته ورسید او په ۱۳۱۵ کال کې د بانکنوټونو د چاپ او خپرولو لپاره په دوه څپرکو او ۲۱ مادو کې اصولنامه خپره کړه چې د دې اصولنامې پر بنسټ بانکنوټونه یو ځل بیا د مسکوکاتو تر څنګ په راکړې او ورکړې کې وکارول شول.

د داوود خان د جمهوریت په دوره کې (۱۳۵۲-۱۳۵۷) د بانکنوټونو ډیزاین بدلون وموند او د محمد ظاهر شاه د عکس پرځای د محمد داوود خان عکس او د شاهی نښان پرځای د جمهوري نښان په بانکنوټونو کې ثبت شو. په دې دوره کې د ټولو بانکنوټونو ډیزاین واحد، خو په مختلفو رنګونو سره چاپ او خپرېدل. د ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ افغانی بانکنوټونه په دې دوره کې په ګردښت کې وو.

د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت له جوړېدو سره سم، د نور محمد تره کي او حفیظ الله امین د واکمنیو په پړاونو کې د "خلق" نښان په بانکنوټونو کې ثبت شو، خو د لومړي ځل لپاره په ۱۳۵۸ کال کې د افغانستان د خلکو دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې په واکمنۍ کې د افغانستان بانک نښان په بانکنوټونو کې درج شو.

د افغانستان د اسلامي دولت په تأسیس سره د افغانۍ ارزښت په بې ساري توګه ټیټ شو او دا حالت د پیسو د لا زیات چاپ او د بانکنوټونو د تراکم او ځوډولۍ لامل شو. د افغانیو د ارزښت دا ټیټوالی د ۵۰۰۰ ګون او ۱۰۰۰۰ ګون بانکنوټونو د چاپ او خپریدو سبب شو او په مسکوکاتو راکړه او ورکړه په عملي توګه له منځه لاړه.

د طالبانو د اسلامي امارت په دوره کې، نوي بانکنوټونه چاپ نه شول، او د تېرو دوه دورو بانکنوټونه په راکړو او ورکړو کې د منلو وړ او په ګردښت کې وو.

په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال کې د ښاغلي حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د موقتې ادارې له جوړېدو سره سم، د افغانستان بانک پولي ریفورم تر لاس لاندې ونیوه او په افغانۍ کې د دریو صفرونو په لرې کولو سره د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ بانکنوټونه چاپ او خپاره شو چې اوس مهال د هېواد د واحدې او دودیزې پیسې په توګه ښه ارزښت لري او له لازم ثبات څخه برخمنه ده.

همدا ډول په دې دوره کې یوځل بیا د ۱، ۲ او ۵ افغانیګۍ مسکوکات د بانکنوټونو تر څنګ د خلکو په راکړه او ورکړه او سوداګریزو او اقتصادي معاملوکې لاره پیدا کړه.

یادداښت: د دې مقالې د چمتو کولو لپاره د "افغانستان در مسیر تاریخ" مؤلف غلام محمد غبار د کتاب څخه ګټه اخیستل شوې ده.

# هیئت افغانستان با هیئت صندوق بین المللی پول تدویر جلسه نمود



جلسه نوبتی د افغانستان بانک و وزارت مالیه با صندوق بین المللی پول بتاریخ ۱۹-۲۴ سرطان ۱۳۹۸ در کشور گرجستان تدویر گردید. این جلسه به منظور ارزیابی عملکرد این ادارات در زمینه اصلاحات ساختاری، ثبات اقتصاد کلان، تورم پولی، بیلانس تادیات، سیاست پولی، وضعیت نظام مالی و چگونگی تطبیق اهداف مقداری تعیین شده تحت برنامه تمدید تسهیل کریدت برگزار گردید.

هیئت اشتراک کننده د افغانستان بانک در این جلسه به رهبری محترم واحدالله نوشیر معاون اول و سرپرست د افغانستان بانک روی موضوعات متذکره با هیئت صندوق بین المللی پول بحث و تبادل نظر نمودند. گفتنی است که در این جلسه محترم نایب خان جمال آمر عمومی سیاست پولی و محترم سلیم صلاح آمر عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک نیز اشتراک داشتند.

پس از بحث های همه جانبه روی موضوعات فوق الذکر، هیئت صندوق بین المللی پول اقدامات د افغانستان بانک را ستوده و اجراات آنرا در تطبیق اهداف مقداری تعیین شده، موفق ارزیابی نمودند. قابل یادآوری است که در این جلسه هیئت وزارت محترم مالیه به ریاست محترم زاهد همدرد معیین مالی و محترم عبدالله رقیبی معیین گمرکات اشتراک نموده و ریاست هیئت صندوق بین المللی پول در این نشست را محترم دینوالد کرستوف به عهده داشت.

# په بانکونو کې د امنيتي لګښتونو د راکمولو په اړه غونډه جوړه شوه



کابل، د ۱۳۹۸ لمريز کال د چنګاښ ۲۶ مه – په افغانستان بانک کې د بانکونو د امنيتي لګښتونو د راکمولو په اړه غونډه جوړه شوه.

دا غونډه چې د افغانستان بانک د سرپرست او لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشېر په مشرۍ جوړه شوې وه، نوموړي د دې ډول غونډو جوړول د خورا ارزښت وړ وبلل.

ښاغلي نوشېر يادونه وکړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې په هېواد کې د بانکدارۍ په برخه پراخې آسانتياوې رامنځته کړي او په دې برخه کې يې په لا زياتو امنيتي همکاريو ټينګار وکړ.

په دې غونډه کې په بانکونو کې د امنيتي لګښتونو د راکمولو په اړه هر اړخيزې خبرې وشوې او د دې لګښتونو په برخه کې د عامه ساتنې د ملي تصدۍ سره په يو شمېر برخو کې د لګښتونو په راکمولو هوکړه وشوه.

د عامه ساتنې ملي تصدي په هېواد کې د بېلابېلو برخو د امنيتي مسئوليت ترڅنګ د بانکونو د ساتنې مسئوليت هم په غاړه لري.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د بانکونو د اتحاديې رييس ښاغلي نجيب الله اميري او د عامه ساتنې د ملي تصدۍ مرستيال ښاغلي سهيل احمد عزيزي هم ګډون کړی وو.

# د خصوصي سکټور د پراختيا د کاري کمېټې غونډه



کابل، د ۱۳۹۸ کال د چنګاښ ۲۵ مه – د افغانستان بانک د دويم مرستيال ښاغلي محمد قسيم رحيمي په مشرۍ د خصوصي سکټور د پراختيا د مالي کمېټې د کاري ډلې غونډه جوړه شوه.

په ياده غونډه کې ښاغلي محمد قسيم رحيمي د (۵۰/۵) عمل پلان د خصوصي سکټور د پراختيا په برخه کې ډېر ګټور وباله اود يادې ډلې د غړو په لا زياتو هڅو او همکاريو يې ټينګار وکړ.

د دې غونډې په ترڅ کې د تر سره شويو چارو لپاره د مرستندويه سندونو په راټولولو او د راتلونکو ۵ مياشتو په پلان خبرې اترې وشوې.

د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د خصوصي سکټور د پراختيا د مالي کمېټې د کاري ډلې غړو هم ګډون کړی وو، چې په پای کې يې په ياد عمل پلان کې د لا پرمختګونو د رامنځته کېدو لپاره د غونډې د ګډونوالو ترمنځ نظرونه هم تبادله شول.

پاتې د نه وي، چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې په هېواد کې خصوصي سکټور پرمختګ وکړي او دا بانک له بېلابېلو لارو د خصوصي سکټور د پياوړتيا لپاره کار کوي.

# د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ کنفرانس جوړ شو




د افغانستان د صنایعو ټولنې د پاپوش کمیټې لخوا د ۱۳۹۸ کال د چنګاښ میاشتې په ۹مه نیټې د یکشنبې په ورځ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ کنفرانس جوړ شو.

دا کنفرانس د پاپوش کمیټې د رئیس ښاغلي حاجي ظریف ګل ځدران لخوا د هرکلي له پیغام سره پیل شو او ورپسې د افغانستان د صنایعو ټولنې عمومي رئیس ښاغلي سخي احمد پیمان د افغانۍ د کارولو او د اسعارو په وړاندې د هغه د ارزښت په اړه خبرې وکړلې او د خپلو هر اړخیزو خبرو له لارې یې د هېواد د ملي صنایعو ستونزې وڅېړلې.

ورپسې د افغانستان د صنایعو ټولنې مرستیالانو هر یو ښاغلي حاجی عبدالجبار صافي او ښاغلي حاجي عبدالصمد خان سیدي او د افغانستان د صنایعو ټولنې اجرائیوي رئیس ښاغلي کریم عظیمي د پاپوش سکتور، ننګونو او ستونزو، د دې سکتور د ظرفیت او د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ د کنفرانس په اړه خبرې وکړلې او د کنفرانس له ګډونوالو سره یې خپل نظرونه شریک کړل.

د دې ترڅنګ، د افغانستان بانک د پولي سیاست عمومي آمر ښاغلي نایب خان جمال د افغانستان بانک په استازیتوب د ټولو صنعتکارانو په تېره بیا د افغانستان د صنایعو ټولنې د پاپوش له کمیټې څخه د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ملاتړ د کنفرانس د جوړولو لپاره مننه او ستاینه وکړه او د افغانۍ د دودولو او ملاتړ په موخه د دا شان کنفرانسونو د جوړولو په برخه کې یې د افغانستان بانک هر اړخیزه همکارۍ او ملاتړ اعلان کړ.

ښاغلي جمال زیاته کړه چې د افغانستان بانک د افغانۍ د دودولو او کارولو په موخه په مرکز او ولایتونو کې د اړیکو او خبر رسولو د بېلابیلو وسایلو په مرسته یو شمېر بېلابیل کمپاینونه او د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچولي دي او هڅه کوي چې د دې پروژې د ملاتړ لپاره خلک متقاعده کړي.

د کنفرانس په ترڅ کې د افغانستان د صنایعو او کانونو د خونې رئیس ښاغلي شیرباز کمین زاده هم د یاد کنفرانس او د پاپوش سکتور ملاتړ وکړ او ژمنه یې وکړه چې د دې تولیدي ټولګې د ستونزو د حلولو په برخه کې به هیڅ ډول هڅې ونه سپموي. د دې ترڅنګ، د افغانستان د سوداګریو خونې مرستیال ښاغلی حاجي باز محمد افسرزی هم د خپلو خبرو پرمهال د افغانستان د صنایعو ټولنې د پاپوش کمیټې له دې اقدام څخه ملاتړ وکړ.

په پای کې، د هېواد د ختیځ زون د هټۍ والو په استازیتوب ښاغلي معلم حضرت خان خپله بیانیه وړاندې کړه او د افغانۍ د ملاتړ لپاره یې خپل غوښ ملاتړ څرګند کړ. د یادولو وړ ده چې د کابل د بوټ ګنډونکو ټولنې رئیس ښاغلي جامي او د مدني ټولنې په استازیتوب ښاغلي رشتیا هم د خپلو خبرو پرمهال د افغانۍ د ملاتړ کنفرانس وستایه.

د غونډې په پای کې د ښاغلي انجنیر دوست محمد لخوا د دې کنفرانس پرېکړه لیک ولوستل شو او بیا د فصل نوین اداري لخوا د افغانستان د صنایعو ټولنې عمومي رئیس، د پاپوش کمیټې مسوولینو او د ختیځ زون د هټۍ والو استازو ته ستاینلیکونه ورکړل شو.

# شانگهای، برترین مرکز مالی بین المللی

شانگهای در زمینۀ خدمات مالی سرمایه گذاری مستقیم خارجی به عنوان برترین مقصد، جایگاه نخست را از نزد سنگاپور از آن خود نموده است.

بر اساس برآوردهای ادارۀ نظارت کنندۀ سرمایه گذاری گرین فیلد، از فبروری ۲۰۱۸ الی جنوری ۲۰۱۹ ، مجموعاً ۱.۳۷ میلیارد دالر امریکائی وارد مرکز مالی شانگهای گردیده، در حالیکه این رقم برای سنگاپور ۱.۱۸ میلیارد دالر امریکائی بوده است.

به همین ترتیب، شهرهای ممبئی هند و بیجینگ چین در ردۀ سوم و چهارم قرار گرفته که ارزش ورود سرمایه مالی به این شهرها به ترتیب به ۳۱۹.۵ میلیون دالر امریکائی و ۳۰۳.۸ میلیون دالر امریکائی میرسد. توکیو که قبلاً در مقام پنجم قرار داشت، طی این دورۀ بررسی با جذب ۱۳۶.۶ میلیون دالر امریکائی به ردۀ دهم افت نموده که این رقم تقریباً یک سوم ارزش سال قبل آن را نشان می‌دهد.

بطور عموم، در کنار سنگاپور، سایر کشورهای آسیایی که تا سال قبل در جایگاه ده کشور برتر از حیث جذب سرمایه گذاری‌های مستقیم خارجی قرار داشتند.

طی این سال روند سرمایه گذاری های مستقیم خارجی و ورود سرمایه به کشورهای شان نزول کرده است. مجموع سرمایه گذاری به این ده کشور که در سال قبل به ۵.۱ میلیارد دالر میرسید، طی سال تحت بررسی ۴.۳۱ میلیارد دالر ثبت شده است.

شمار مجموعی شغل که از طرف همین ده مرکز برتر مالی ایجاد گردیده، نیز افت نموده است. بر اساس آمار موجود، تا پایان جنوری ۲۰۱۹ به اندازۀ ۸۰۹۵ شغل جدید ایجاد گردیده، در حالیکه این رقم در سال قبل به ۱۳،۲۶۶ شغل می‌رسید.

طی این مدت، توکیو بطور متواتر در صدر لست بیرون ریزی نقدی از رهگذر سرمایه گذاری مستقیم خارجی قرار گرفته و مجموعاً ۱.۳ میلیارد دالر امریکائی را به مراکز بیرونی مالی هدایت داده است.

سیول پایتخت کوریای جنوبی جایگاه دوم را داشته و بیجینگ به جایگاه چهارم یک رده ارتقا نموده است و شهر چیبا واقع جاپان در موقعیت پنجم قرار گرفته در حالی‌که قبلاً شامل ده مرکز برتر آسیا برای جذب سرمایه گذاری مستقیم خارجی نمی‌شد.

**۱۰ مرکز برتر مالی بین المللی از لحاظ ورود خدمات مالی سرمایه گذاری مستقیم خارجی،(اکتوبر ۲۰۱۷ الی سپتمبر ۲۰۱۸)**

| درجه | مرکز مالی بین المللی | ( ) | پروژه ها | اوسط ( ) | شغل ایجاد شده | اوسط شغل | کمپنی ها |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | شانگهای | ۱۲۷۳.۴۰ | ۱۶ | ۷۹.۶ | ۱،۴۶۲ | ۹۱ | ۱۶ |
| ۲ | سنگاپور | ۱۱۸۵.۲۰ | ۳۴ | ۳۴.۹ | ۱،۵۹۸ | ۴۷ | ۳۴ |
| ۳ | لندن | ۹۲۲.۲ | ۵۹ | ۱۵.۶ | ۱،۹۱۷ | ۳۲ | ۵۸ |
| ۴ | هانگ کانگ | ۷۸۰.۱ | ۲۳ | ۳۳.۹ | ۵۹۸ | ۲۶ | ۲۳ |
| ۵ | دبلین | ۵۸۷ | ۲۳ | ۲۵.۵ | ۲،۰۴۶ | ۸۸ | ۲۳ |
| ۶ | دُبی | ۵۴۲.۸ | ۳۱ | ۱۷.۵ | ۷۱۴ | ۲۳ | ۳۰ |
| ۷ | سیدنی | ۴۵۶.۱ | ۱۴ | ۳۲.۶ | ۴۵۷ | ۳۲ | ۱۴ |
| ۸ | بیجینگ | ۴۳۰.۸ | ۷ | ۶۱.۵ | ۱،۲۴۴ | ۱۷۷ | ۷ |
| ۹ | پاریس | ۳۹۰.۸ | ۱۸ | ۲۱.۷ | ۵۶۰ | ۳۱ | ۱۸ |
| ۱۰ | شهر هو چی مین | ۳۴۲.۸ | ۱۰ | ۳۴.۳ | ۸۶۳ | ۸۶ | ۶ |

## ۱۰ مرکز برتر مالی بین المللی از لحاظ ورود خدمات مالی سرمایه گذاری مستقیم خارجی، (اکتوبر ۲۰۱۶ الی سپتمبر ۲۰۱۷)

| درجه | مرکز مالی بین المللی | ( ) | پروژه ها | اوسط ( ) | شغل ایجاد شده | اوسط شغل | کمپنی ها |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سنگاپور | ۱۲۹۴.۳۰ | ۳۶ | ۳۶ | ۱،۹۹۶ | ۵۵ | ۳۶ |
| ۲ | شانگهای | ۱۱۱۵.۰۰ | ۱۵ | ۷۴.۳ | ۲،۴۵۶ | ۱۶۳ | ۱۵ |
| ۳ | لندن | ۱۰۶۴.۸۰ | ۵۶ | ۱۹ | ۱،۷۱۱ | ۳۰ | ۵۳ |
| ۴ | هانگ کانگ | ۷۲۵.۴ | ۲۱ | ۳۴.۵ | ۸۱۰ | ۳۸ | ۲۱ |
| ۵ | مُمبی | ۴۹۷ | ۱۰ | ۴۹.۷ | ۱،۷۱۳ | ۱۷۱ | ۱۰ |
| ۶ | پاریس | ۴۹۴.۵ | ۱۶ | ۳۰.۹ | ۶۰۱ | ۳۷ | ۱۶ |
| ۷ | دُبی | ۳۴۷.۷ | ۱۹ | ۱۸.۳ | ۳۷۳ | ۱۹ | ۱۹ |
| ۸ | فرانکفورت | ۳۳۰ | ۲۱ | ۱۵.۷ | ۷۳۲ | ۳۴ | ۲۱ |
| ۹ | زوریخ | ۳۱۷.۹ | ۱۱ | ۲۸.۹ | ۱۷۰ | ۱۵ | ۱۱ |
| ۱۰ | توکیو | ۳۰۴ | ۸ | ۳۸ | ۴۹۸ | ۶۲ | ۸ |

## ۱۰ مرکز برتر مالی بین المللی از لحاظ خروج خدمات مالی سرمایه گذاری مستقیم خارجی، (اکتوبر ۲۰۱۷ الی سپتمبر ۲۰۱۸)

| درجه | مرکز مالی بین المللی | ( ) | پروژه ها | اوسط ( ) | شغل ایجاد شده | اوسط شغل | کمپنی ها |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لندن | ۲۴۱۹.۹۰ | ۱۱۴ | ۲۱.۲ | ۷،۴۴۹ | ۶۵ | ۷۸ |
| ۲ | نیویارک | ۱۹۰۱.۵۰ | ۷۴ | ۲۵.۷ | ۴،۱۷۷ | ۵۶ | ۴۲ |
| ۳ | پاریس | ۱۴۲۹.۴۰ | ۴۰ | ۳۵.۷ | ۶،۷۵۱ | ۱۶۸ | ۲۶ |
| ۴ | هانگ کانگ | ۱۲۳۷.۹۶ | ۲۴ | ۵۱.۶ | ۱،۹۷۶ | ۸۲ | ۱۲ |
| ۵ | توکیو | ۱۱۶۶.۰۰ | ۳۶ | ۳۲.۴ | ۳،۸۹۴ | ۱۰۸ | ۲۱ |
| ۶ | سیول | ۹۵۵ | ۳۰ | ۳۱.۸ | ۲،۲۷۲ | ۷۵ | ۱۲ |
| ۷ | سنگاپور | ۸۷۳.۳ | ۲۲ | ۳۹.۷ | ۱،۱۷۶ | ۵۳ | ۱۴ |
| ۸ | تورنتو | ۶۳۴.۶ | ۲۴ | ۲۶.۴ | ۲،۱۲۸ | ۸۸ | ۱۳ |
| ۹ | زوریخ | ۵۹۷ | ۳۲ | ۱۸.۷ | ۱،۹۲۴ | ۶۰ | ۱۹ |
| ۱۰ | ابو ظبی | ۴۷۰.۷ | ۲۰ | ۲۳.۵ | ۱،۱۹۲ | ۵۹ | ۹ |

## ۱۰ مرکز برتر مالی بین المللی از لحاظ خروج خدمات مالی سرمایه گذاری مستقیم خارجی، (اکتوبر ۲۰۱۶ الی سپتمبر ۲۰۱۷)

| درجه | مرکز مالی بین المللی | ( ) | پروژه ها | اوسط ( ) | شغل ایجاد شده | اوسط شغل | کمپنی ها |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لندن | ۲۲۵۷.۳۰ | ۸۳ | ۲۷.۲ | ۶،۰۴۰ | ۷۲ | ۵۸ |
| ۲ | نیویارک | ۱۶۳۲.۶۰ | ۴۶ | ۳۵.۵ | ۵،۶۳۰ | ۱۲۲ | ۳۳ |
| ۳ | زوریخ | ۹۷۹.۶ | ۳۸ | ۲۵.۸ | ۳،۴۴۲ | ۹۰ | ۱۸ |
| ۴ | توکیو | ۸۷۲.۱ | ۳۱ | ۲۸.۱ | ۲،۴۱۶ | ۷۷ | ۲۵ |
| ۵ | تایپی | ۵۹۳.۴ | ۱۶ | ۳۷.۱ | ۱،۶۵۹ | ۱۰۳ | ۷ |
| ۶ | پاریس | ۵۸۳.۷ | ۲۸ | ۲۰.۸ | ۱،۷۲۴ | ۶۱ | ۲۶ |
| ۷ | مادرید | ۵۷۱.۵ | ۱۴ | ۴۰.۸ | ۱،۱۰۴ | ۷۸ | ۸ |
| ۸ | سنگاپور | ۵۵۹.۱ | ۱۶ | ۳۴.۹ | ۱،۴۴۱ | ۹۰ | ۱۱ |
| ۹ | هانگ کانگ | ۴۸۵ | ۱۵ | ۳۲.۳ | ۱،۲۶۷ | ۸۴ | ۱۴ |
| ۱۰ | بیجینگ | ۴۶۷.۱ | ۲۲ | ۲۱.۲ | ۸۹۷ | ۴۰ | ۱۱ |

منبع: مجلهٔ بانکر اپریل ۲۰۱۹     مترجم: مسعود ودان

# مرکزي بانکونه له ټولنې سره څنګه اړیکه پیدا کوي

د بانکر د میاشتنۍ خپرونې ایډیټر سیلوا پواني د هند د مرکزي بانک د پخواني مشر ښاغلی رګورام راجن سره چې اوسمهال د شیکاګو د بزنس په علمي مرکز کې د مالي چارو پروفیسور دی، ځانګړې مرکه ترسره کړې چې لاندې د بانک د لوستونکو لپاره وړاندې کیږي.

ښاغلی رګورام راجن په دې باور دی چې غوره پالنه او ټولنیزه بسیج د ډیرې مودې راهیسې د ښې ټولنې د بنسټ په توګه یادیږي. خو اقتصادي فشارونو د اوسنیو جوړښتونو کمزورتیاوې په ډاګه کړې چې په دې چاپېریال کې نخبګان د مسوولیت خاوندان دي په داسې حال کې چې ګڼ شمېر خلک چې په زیاته اندازه ناراضه او هڅانده دي، مجبور شوي چې د دغو نخبګانو د تصمیمونو عواقب وګالي. هغه وايي "خلک هغه خوځښت او بسیج چې هغوی فکر کاوه مخکې موجود وو، اوس نه ویني".

مرکزي بانکونه د نخبګانو په ضد د فعالیتونو له خطر سره هم مخ دي. ښاغلی راجن وایی "له بده مرغه، زه فکر کوم چې مرکزي بانکونه په ډېره ښکاره توګه د نخبګانو د ډلې یوه برخه ګرځېدلې ده، لکه څنګه چې زه یم. مونږ ټول د دې ډلې برخه یو".

**د لاسرسی بندېدل**

د بازارونو او اقتصاد په اړه ځانګړې خبرې د پالیسی جوړونکو او پراخې ټولنې چې ورته خدمت کوي، ترمنځ خلاء راکمولو کې کومه مرسته کړې نه ده. ښاغلی راجن وایي "مرکزي بانکونه د ناټاکل شویو تکنوکراتانو څخه جوړ شوی چې زیاتره یې دوکتورا لري او زیاتره یې داسې خبرې کوي چې د ډېرو خلکو غوږ ته په آسانی سره نه رسیږي او کله کله عمداً هڅه کیږي چې دا خبرې خلکو ته ونه رسیږي. دا ډله تر یوه بریده هڅه کوي چې د هغه نظر په وړاندې ودرېږي چې وایي زمونږ د اوسنیو ستونزو لپاره آسانه حل لارې شته دي".

د ښاغلي راجن په وینا، دا یوه ستونزه ده. څومره چې د حل لارې پیچلې وي، د هغه طرحه کول به د ټولنې خلک د ډېر وخت لپاره بوخت وساتي. له بلې خوا، د نه لاسرسی وړ ژبه د هغو ولس پالوونکو (پاپولستانو) په دام کې د غورځېدو خطر

»

لري چې کوم ښه فکري (خو لږ عاقلانه) پلانونه لري. ښاغلی راجن وايي "د ولس پالنې دا ټول مشران غواړي چې آسانه حل لارې غوره کړي: تاسې ډېر لګښت غواړئ، نو راځئ چې نورې پيسې چاپې کړو".

له دوديز پلوه، د مرکزي بانکونو پر مسوولانو باندې د خپلو مسووليتونو د مشخصولو او اجرا کولو په برخه کې اعتماد کېږي. "هغوی يوازې پرېښودل شول، ټولو ورباندې اعتماد وکړ چې هغوی سم کار کوي. خو کله چې له هغوی وغوښتل شو چې د عمومي مقداري آسانتيا ترڅنګ نور څه هم ترسره کړي، له هغوی وپوښتل شو چې خپلې کړنې خلکو ته توضيح کړي تاسو ولې د دغو بانکونو د ژغورلو لپاره مرسته وکړه، تاسو ولې د ټکټانې نرخونه د دومره مودې لپاره ټيټې وساتلې، تاسو ولې د ټکټانې نرخونه جګوئ؟".

څرنګه چې مالي او اقتصادي کړکيچونو هر شخص اغېزمنه کړی، ګڼ شمېر خلکو اوس د پاليسي جوړونکو ته پام ګرځولی دی. ښاغلی راجن وايي "خلک غواړي پوه شي چې هغوی نور پر مرکزي بانکونو باندې چې د نخبګانو يوه برخه جوړوي، د مخکې په اندازه اعتماد نه کوي، او هغوی غواړي پر دې هم پوه شي چې يوازې هغوی د ټکټانې نرخ سم ټاکلی نه دی، بلکې حتی مرکزي بانکونه هم په دې اړه دقيقه پوهه لري. د پوهې ارزښت په داسې يو فکر سره راکمېږي چې لکه نخبګانو د بيانځلي خطا څخه مخکې پخوا هم خطا کړې وي، مونږ ستاسو په پرتله چې په خپله کلا کې ايثار ياست، په دې باندې ښه پوهېږو.

د ښاغلي راجن په وينا، په اوسني وخت کې د مشريتوب او ټولنې تر منځ نږدې او دوامداره اړيکو او خبرو ته اړتيا ليدل کېږي. خو دا کار هم خپلې ننګونې لري، ځکه چې د مرکزي بانک زياتره خطرونه پرځای د دې چې خپلواکه وليدل شي، سياسي ګڼل کېږي. ښاغلی راجن وايي "بې شکه، څه چې ليدل کېږي د ځان سره خطر لېږدوي: سياست وال داسې احساس کوي چې تاسې د هغوی په ساحه کې تېری کوئ او تاسې هم د هر هغه شخص ښکار ګرځئ چې تاسې د يو ځای د اشغالوونکي په توګه ويني".

په پرمختللونکو بازارونو کې د مرکزي بانکونو مسوولان په دې ښه پوهېږي چې د ټولو مهمو اصلاحاتو په اړه د عام توافق ترلاسه کول دا خطر لري چې په يو سياسي فعاليت باندې بدل شي. خو دا يو داسې خطر دی چې پرمختللي بازارونه ترې مخنيوی کولای نه شي. د رسنيو له لارې د خلکو سره وار وار خبرې کول د دې پروسې پيل ګڼل کېږي. د امريکې فدرال رزرو خپل رسنيز کنفرانسونه دوه چنده کړي چې ښاغلی راجن ورته د يو داسې وسيلې په توګه اشاره کوي چې د دې اداري د اړيکو چارې ښه کوي. نوموړی وايي "اوس د مرکزي بانکونو لخوا جوړ شوی سيستم له ننګونې سره مخ دی، تاسې بايد هلته ولاړ شئ او لازيات توضيح ورکړئ".

سرچينه: د بانکر مجله مي ۲۰۱۹

# صدمین سالروز استرداد ا

# د افغانستان د خپلواکی س

## استقلال از افتخارات ملی ماست
## پول افغانی هم نشانهٔ افتخار، اقتدار و هویت ملی ماست






# ستقلال افغانستان مبارک!

# سلمه کلیزه مو مبارک شه!

## خپلواکي زموږ له ملي ویاړونو څخه ده
## افغانۍ هم زموږ د ویاړ، اقتدار او ملي هویت نښه ده





# بانکها؛
## چرخه های اقتصادی را تسهیل می بخشند

بانک‌ها نقش اساسی را در رونق اقتصادی هر جامعه ایفاء نموده و به عنوان تسهیلگر چرخه های اقتصادی، تجارتی و همچنان مولد ثروت و تأمین کنندهٔ منابع مالی سکتور خدمات، زارعت و صنعت می باشند.

با توجه به مسئولیت بس بزرگ بانک‌ها به مقایسه با سایر نهاد ها و شرکت ها که در رشد و توسعه اقتصادی دارند، نقش آنها در عرصه های مختلف صنعت و اقتصاد نیز پُر رنگ بوده و در عین زمان تأثیر مستقیم بر کارکرد سایر نهاد های اقتصادی دارند. هر چند بعضی اوقات بانک‌ها در معرض نوسانات بازار قرار می گیرند و با مشکلاتی نظیر بدهی های پرداخت ناشده و غیره مواجه اند، اما با آنهم وظیفه دارند تا مسئولانه به این همه مشکلات پرداخته و پاسخگو باشند. در جریان سال های اخیر با توجه به اینکه سیاست های بانکی در راستای سود رسانی به همه طبقات جامعه شکل گرفته است، با در نظرداشت آن، مردم و شرکت ها باید از منابع پولی آنها جهت رشد فعالیت های اقتصادی استفادهٔ بهینه نمایند.

در ادبیات اقتصادی، سرمایه به منزلهٔ شاهرگ حیاتی نظام‌های اقتصادی بوده و نقش تعیین کنندهٔ را در رشد اقتصادی جامعه دارد و یکی از اهداف اساسی کشورها را دستیابی به رشد و توسعه اقتصادی تشکیل می‌دهد. میزان رشد و توسعهٔ اقتصادی و اجتماعی به مؤسسات پولی و اعتباری و در کُل به سیستم بانک‌ها که ارکان اصلی بازار های مالی می باشند بر می گردد و بانک ها نقش بسزایی را در تأمین سرمایه اقتصادی تشبثات خُرد، متوسط و بزرگ دارند.

پیشرفت های زیادی که طی سالیان دراز در مورد علوم و فنون بمیان آمده، به تبع آن در نظام بانکی نیز تغییراتی بوجود آورده است. بانک‌ها با جذب نقدینگی و اعطای تسهیلات می توانند وضعیت اقتصادی اجتماع را دگرگون سازند. چنانچه جوزف شومپیتر در سال ۱۹۱۲ گفته است که بانک های خوب با شناسایی و تأمین مالی و کارفرمانی بیشترین شانس برای تولیدکننده گان محصولات جدید و یا اجرای طرح های ابتکاری دارند که این همه موجب تقویت نوآوری سیستم مالی و تکنالوژی می گردد.

همچنان کارکرد های مهم اقتصادی بانک‌ها را تجهیز بیشتر پس انداز، تشخیص بهینهٔ سرمایه، انتقال مازاد خانواده های که خواهان علاقمندی به سرمایه

گذاری به افراد یا مؤسسات نیازمند به وجوه مالی می باشد، تشکیل می دهد و از طرف دیگر افزایش نقدینگی و کاهش ریسک نیز مربوط به آن می باشد.

بانک ها به عنوان مؤسسات مالی و خدماتی که در یک جامعه نقش تعیین کننده ای را در گردش پول و ثروت دارند، از جایگاه ویژه ای در اقتصاد هر جامعه برخوردار اند.

فعالیت مثبت و مؤثر بانک ها می تواند در رشد بخش های اقتصادی و افزایش تولیدات در هر بخش و یا شکوفایی در برخی زمینه های اقتصادی اثرات مهمی بر جا گذارد. در جامعۀ امروز قسمت عمده مبادلات پولی به وسیله همین بانک ها انجام می شود.

بانک ها محل امنی برای حفظ پول نقد مردم می باشند که در هر زمان نیاز به آن پول داشته باشند به سرعت می‌توانند پول خود را اخذ و در جای ضرورت هزینه کنند. یکی از خدمات دیگر مهم بانک ها، انتقال پول به مکان ها یا حساب های دیگر است که نقش ارزنده ای در تسهیل مبادلات تجاری و زندگی اقتصادی مردم دارد که با این شیوه از یک طرف می توان بدون زحمت پول را انتقال داد و از طرف دیگر مصونیت آن را نیز تأمین نمود.

بانک ها همیشه مالیات، عوارض دولتی، جرایم و امثال آنها را از سراسر جامعه در سطح کشور جمع کرده و به حساب دولت واریز می کنند. همچنان حقوق و مزایای کارکنان دولت را برای شان می رسانند. تبدیل ارزهای خارجی و پول رسمی هر کشور از جمله خدمات همین بانک ها است. افراد با افتتاح حساب جاری از چک های خود که همان پول تحریری به حساب می آید، می توانند همانند پول در مبادلات استفاده کنند.

بانک ها با تجهیز سرمایه های خُرد و کلان جامعه و سوق دادن آنها به سمت فعالیت های مفید و مولد، می توانند نقش مهمی را در رشد و توسعه اقتصادی جوامع و در نهایت به رشد اقتصادی کشور ها ایفاء کنند.

مردم عام، نهاد ها و شرکت ها با در نظرداشت موضوعات فوق باید از تمام مزایا، تسهیلات و خدمات بانکی استفاده نمایند تا از یک طرف فعالیت های شان رونق یافته و از سوی دیگر تمام معاملات پولی شان بطور مصون و بدون خطر انجام یابد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. **Money's** Role in Our **Society**
scripts.cac.psu.edu/users/h/w/hwp5131/Assignment% - 205.html
However, in real life **money** is a very important matter in peoples lives. Although ... **Money** plays a huge role in the **society** in variety of ways such as in business, ...

2. دور البنوك وفعاليتها في تمويل النشاط - ...
revues.univ-ouargla.dz
https://revues.univ-ouargla.dz/index.../774-2013-05-07-16-02 - -12
دور **البنوك** وفعاليتها **في** تمويل النشاط الاقتصادي - حالة الجزائر. مصيطفى عبد اللطيف - **جامعة** ورقلة. ملخص: هناك عوامل كثيرة تؤثر **على** أداء **البنوك** و فاعليتها **في**...

3. **بانک** - ویکی‌پدیا، دانشنامهٔ آزاد
https://fa.wikipedia.org/wiki/

# په بهر کې د تولیدي توکو نندارتونونه، د اسعارو د راتګ یوه لاره

په بهرنیو هېوادونو کې د افغان تولیدي توکو د نندارتونونو جوړول د افغانستان په سوداګرۍ مثبت اغیز کوي او بهرنیو هېوادونو ته د دې هېواد د صادراتو کچه لوړوي.

بهرنیو هېوادونو ته د صادراتو زیاتېدل په مستقیم ډول افغانستان ته د اسعارو د را بهیدنې بهیر ګړندی کوي او دا چاره په هېواد کې د اقتصادي پرمختګ د رامنځته کېدو لامل کېږي.

په تېرو څو کلونو کې د افغان دولت له لوري په مختلفو برخو کې د افغان کرنیزو او نورو تولیدي توکو نندارتونونه په کور د ننه او بهر جوړ شوي او دا لامل شوی چې افغانستان په بېلابېلو برخو کې د بهرنیو سوداګرو سره تړونونه لاسلیک کړي چې پر مټ یې په مستقیم ډول افغانستان ته د اسعارو د راتګ لپاره لاره پرانیستل شوې ده.

په دې وروستیو کې د هندوستان په ممبۍ ښار کې د افغان کرنیزو توکو یو نندارتون جوړ شو چې له کبله یې افغان سوداګرو د ۷۵ میلیون ډالرو په ارزښت تړونونه او ژمنې تر لاسه کړل.

په دغه نندارتون کې د افغانستان وچې او تازه مېوې، طبي بوټي، شات، زعفران او نور کرنیز توکي ننداري ته وړاندې شوي وو.

بهرني سوداګر د افغانستان وچې او تازه مېوې، زعفران او نور کرنیز توکي د هغه د لوړ کیفیت له کبله خوښوي او دا لامل شوی دی چې په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان د کرنیزو توکو لپاره غوښتنې زیاتې شي.

د معلوماتو پر بنسټ په دې نندارتون کې دوو طبي بوټو انجې (( هنګ)) او شیرین بویې ښه بازار درلود او تر نورو هغو توکو چې په دې نندارتون کې ننداري ته اېښودل شوي وو، زیات وپلورل شول.

انجه او شیرین بویه طبي بوټي دي چې د ډېرو ناروغیو د مخنیوي لپاره کارول کېږي، دا بوټي په ټوله نړۍ کې ښه بازار لري او په افغانستان کې د دې بوټي د زرغونېدو لپاره غوره چاپېریال برابر دی.

د دې بوټو دود کول د افغانستان په کرنیز اقتصاد کې رغنده رول لوبولی شي او همدارنګه په کور د ننه د درملو په تولید او بهرنیو هېوادونو ته په صادراتو سره یې په مستقیم ډول افغانستان د اسعارو د راتګ زمینه برابرېږي.

بلخوا په روان کال کې افغانستان د متحده عربي اماراتو په دبۍ ښار کې د ګلفوډ تر نامه لاندې جوړ شوي نندارتون کې د ۴۰ میلیون ډالرو په کچه تړونونه تر

»

لاسه کړل چې د تېر کال په پرتله نږدې ۵۰ سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی.

افغانستان تېر کال په یاد نندارتون کې د ۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت تړونونه لاسلیک کړي وو، خو سږ کال د تړونونو دا ارزښت ۴۰ میلیون ډالرو ته پورته شوی او د ۴۰ میلیون ډالرو په ارزښت نورې ژمنې یې هم تر لاسه کړې دي.

په ګلفوډ نندارتون کې زعفران، جلغوزي، وچې میوې، لبنی توکي نندارې ته اېښودل شوي وو چې زعفرانو او وچې مېوې د بهرنیانو زیاته پاملرنه ځان ته را جذب کړې وه.

د افغانستان کرنیز توکي په نړیواله کچه د ښه کیفیت له پلوه لوی نوم لري او له همدې کبله یې په نړیوالو بازارونو کې پېرودونکي د هرې ورځې په تېرېدو سره مخ په زیاتېدو دي.

په کور دننه او نړیوالو هېوادونو کې د افغان کرنیزو توکو په پار د نندارتونونو رامنځته کېدل د کرنیزو محصولاتو د پلور او صادراتو د زیاتوالي لامل کېږي او دا چاره په مستقیم ډول د افغان بزګرانو د اقتصادي وضعیت د غوړېدنې په برخه کې مرسته کوي.

د یادونې وړ ده چې افغان دولت په کور دننه او بهر کې په تېرو څو کلونو کې د خپلو کرنیزو او صنعتي تولیداتو نندارتونونه جوړ کړي دي، چې له دې لارې یې د دې توکو د بازار موندنې په برخه کې د لیدنې وړ پرمختګونه رامنځته کړي دي.

**د نندارتونونو ګټې**

1. د نندارتونونو په جوړېدو سره عامه پوهاوی رامنځته کېږي او په وسیله یې سوداګر کولای شي د خپلو کرنیزو توکو د ځانګړتیاوو په اړه پېرودونکو ته معلومات ورکړي، له خپلې سوداګرۍ سره یې آشنا کړي او له همدې لارې د لا زیاتو فرصتونو لپاره هم لاره پرانیستل کېږي.
2. په دې ډول نندارتونونو کې مخامخ لیدنې تر سره کېږي، چې دا لاره د پلورونکو او پېرودونکو تر منځ د اړیکو د رامنځته کولو تر ټولو غوره لاره ده.
3. همدارنګه د دې ډول نندارتونونو په رامنځته کېدو سره سوداګر هغه کسان پېژني چې ورته توکي تولیدوي، په دې سره د دوی تر منځ ځنځیري اړیکې رامنځته کېږي او دا لامل کېږي د لا غوره تولیداتو لپاره لارې چارې پیدا کړي.
4. نندارتونونه د نویو محصولاتو د پېژندنې لپاره غوره ځایونه دي چې په دې سره د نویو محصولاتو لپاره ښه بازار موندنه کېدای شي.●

حسیب الله نوري

سرچينې:


1. https://www.nibusinessinfo.co.uk/content/advantages-and-disadvantages-trade-shows-and-exhibitions
Trade shows and exhibitions
Advantages and disadvantages
of trade shows and exhibitions
2. http://mail.gov.af/ps/news/96558
3. https://www.bbc.com/pashto/
د خپرېدو نېټه: Jun 23, 2019
د ممبی له نندارتون څخه افغانستان د ۷۵ میلیونه ډالرو په ارزښت قراردادونه او ژمنې ترلاسه کړه
afghanistan-46256087
زلمی آشنا د بي بي سي خبریال
4. http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=104318

# مجله بانک و دوازده سال فعالیت کاری



بعد از سال ۱۳۸۱ و تصویب قانون اساسی افغانستان، تغییرات و تحولات بنیادی در همه عرصه ها بمیان آمد. یکی از این تحولات را می توان استقلالیت د افغانستان بانک عنوان نمود که در مادۀ دوازدهم قانون اساسی کشور تصریح یافته است. این استقلالیت، د افغانستان بانک را در مسیر جدید کاری قرار داد. گسترش فعالیت های د افغانستان بانک و توسعه نظام بانکی در کشور، اصل شفافیت و حسابدهی ادارات دولتی، پخش و نشر اطلاعات، آمار و ارقام در زمینه فعالیت های ادارات؛ ضرورت داشتن نشریه ای را که ضمن پخش و نشر مقاله های علمی- اقتصادی، به نشر فعالیت ها، پیشرفت های اقتصادی دولت جمهوری اسلامی افغانستان و دست آوردهای د افغانستان بانک و در کُل نظام بانکی کشور بپردازد، تقویت کرد.

هیئت رهبری د افغانستان بانک با در نظرداشت اهمیت این موضوع، مجله بانک را دوازده سال قبل از امروز پایه گذاری نمود.

مدیریت نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست که از سال ۱۳۸۶ در چوکات د افغانستان بانک به فعالیت آغاز کرد، اولین شماره مجله بانک را در ماه سرطان سال ۱۳۸۶ هجری شمسی چاپ و بدسترس شرکای د افغانستان بانک و علاقه مندان موضوعات اقتصادی قرار داد که از نشر مجله بانک دوازده سال گذشت و با چاپ و نشر این شماره ( ۱۴۵) سال سیزدهم آن آغاز می گردد.

مدیریت نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست طی این مدت در امر انعکاس اهداف و فعالیت های د افغانستان بانک، تشریح و تصریح پالیسی های کُلی بانک و دست آوردهای نظام بانکی و مالی کشور و در کُل دستاوردهای اقتصادی دولت جمهوری اسلامی افغانستان همواره تلاش نموده است.

این مجله اقتصادی از چندین سال بدینسو تحت نظر هیئت تحریر فعالیت می نماید. سردبیر مجله محترم شفیق الله بارز معاون نشرات، ارتباطات، آگاهی عامه و ترجمه آمریت عمومی دفتر ریاست می باشد. مدیر مسئول مجله محترم یما عفیف مدیر نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست بوده و جمع آوری مطالب، تحریر مقالات، گزارش ها، دیزاین، عکس ها، توزیع و غیره موضوعات متوجه مدیریت نشرات می‌باشد و در قسمت ترجمه بعضی مقالات، بخش ترجمه آمریت عمومی دفتر ریاست همکاری می نماید.

مدیریت نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست از همکاران قلمی و دوستانی که با مقالات و مضامین پرمحتوا و مفید اقتصادی شان ما و مجله بانک را همکاری نموده اند و در غنامندی بیشتر این مجله سهم فعال و ارزنده داشته اند ابراز سپاس و قدردانی نموده و از همه شان آرزومند است تا با استمرار همکاری های همیشگی شان مجله خود را یاری رسانند.

جا دارد با ختم دوازدهمین سال فعالیت مجله، اسمای همکاران قلمی را که با تهیه مضامین و مقاله های خوب شان مجله بانک را طی سال گذشته همکاری نموده اند، بدسترس نشر سپرده و به این شیوه از ایشان سپاسگزاری نمائیم.

محترم تاج محمد تمکین اقتصاد دان زون شرق، محترم محبوب الله شریفی مدیر خطرات سرمایه گذاری آمریت عمومی عملیات بازار، محترم فواد لودین آدیتور داخلی اداره محترم ناظر کُل، محترمه سودابه زاهدی آفیسر ارشد جندر آمریت توسعه خدمات مالی، محترم محمد محسن اکبری تحلیلگر ارشد حمایت از حقوق مستهلکین سکتور مالی، محترم احمد ضیا رفیقی تیم لیدر تادیات داخلی آمریت تادیات، محترمه صدیقه علوی تحلیلگر ارتباطات آمریت توسعه خدمات مالی، محترم عبدالغفور سهیل مدیر سرمایه گذاری آمریت عملیات بازار، محترم احمد میلاد غوثی آفیسر خطرات مالی آمریت ادارهٔ خطرات، محترم محمد امان حیدری تحلیلگر آمار و ارقام آمریت توسعه خدمات مالی، محترم یحیی همیم کاربر سیستم و شبکه زون مرکز و محترم عابد الله بیدار معاون سکشن اطمینان کیفیت ادارهٔ محترم ناظر کُل و همچنان دو تن از همکاران قلمی خارج از بانک هر یک محترم شاه ولی قرار و محترم غلام حسن زاهدی.

قابل یادآوریست که مدیریت نشرات آمریت عمومی دفتر ریاست در کنار پیشبرد ماهنامه "مجله بانک"، با سعی و تلاش همه آمریت های محترم د افغانستان بانک و تعدادی از کارمندان آمریت عمومی دفتر ریاست که راپور سالانه د افغانستان بانک، بولتن های احصائیوی و اقتصادی ربعوار و سالانه، رساله ها و سایر نشریه ها را نیز جهت آگاهی عامه، جامعه اکادمیک، محصلین رشته اقتصاد و شرکای ذینفع از فعالیت های د افغانستان بانک چاپ و بدسترس نشر می سپارد.

# اقتصادي خبرونه

**افغان سوداګرو هند تـه د ۱۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت د صادراتـو ترونونه کړي**

دا ترونونه د هند په ممبئي ښار کې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو په نندارتون کې لاسلیک شوي دي.

په افغانستان کې د امریکا نړیوالـه پراختیایي اداره (USAID)وايي، چې په هند کې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو په نندارتون کې افغان سوداګرو د ۱۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت ترونونه ترلاسه کړي دي.

دا دوه ورځنی نندراتون، چې د غبرګولي په ۳۱ مه د هـند پـه ممبئي ښار کې جوړ شوی وو، په کې د افغانستان وچې او تازه میوې، طبي بوټي، شات، زعفران او صنعتي محصولات نندارې ته وړاندې شوي وو.

د افغانستان لپاره د امریکا نړیوالي پراختیایي اداري په یوې اعلامیه کې ویلي: ″د تازه مېوو صادروونکو د ۵۶ میلیون امریکايي ډالرو او وریښي د هنګ صادروونکو د ۴۳ میلیون ډالرو په ارزښت د ترونونو په ترلاسه کولو د دغه نندارتون مخکښ شول."

په اعلامیه کې دغه راز راغلي چې د افغانستان د وچې میوې سوداګرو په ځانګړې ډول د بادام او پستې د صادراتو په برخه کې د ۱۵ میلیون ډالرو او د زعفرانو او نورو مصاله جاتو په برخه کې د څه باندې ۷ میلیون ډالرو په ارزښت ترونونه لاسلیک کړي دي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي چې په دغه نندارتون کې د افغانستان ۵۷ سوداګریزو شرکتونو کرنیز محصولات او لاسي صنایع نندارې ته وړاندې کړي وو.

د دغې خونې ویاند امریکا غږ – آشنا ته وویل، په دغه نندارتون کې افغان سوداګرو له یو شمېر هندي او نورو بهرنیو شرکتونو سره هند ته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو او صنایعو د صادرولو ترونونه هم لاسلیک کړل.

هغه زیاته کړه: ″دا ۱۲۳ میلیون ډالرو په شاوخوا کې چې قراردادونه او تفاهمنامې ترلاسه شوي دي، له دې وروسته به د دې صادرات هم شروع کېږي او دا به ډېره مثبته اغیزه ولري."

د ښاغلي نوید د دې خونې ویاند پر وینا، په دې نندارتون کې د افغانستان کرنیزو محصولاتو، قیمتي ډبرو او لاسي صنایعو ته د بهرنیو سوداګرو لېوالتیا زیاته وه او له همدې امله د افغان سوداګرو تړل سوداګریز توکي وپلورل شول.

دا نندارتون د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت لـه خوا د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداري په مرسته جوړ شوی وو.

د امریکا نړیوالې پراختیایي اداري ټینګار کړی چې د افغانستان د اقتصادي پیاوړتیا او پر ځان د بسیا کېدو لپاره هڅه کوي، چې افغان سوداګر لـه نړیوالو پېرېدونکو سره ونښلوي.

**نگرانی اتاق تجارت افغانستان از کاهش بودجه توسعه چابهار از سوی هند**

اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان از تصمیم هند که بودجه روند توسعه چابهار را به یک سوم کاهش داده، ابراز نگرانی کرده است. براساس گزارش رسانه‌های هندی، دهلی در نظر دارد تا بودجه روند توسعه بندر چابهار را از سالانه از حدود ۲۲ میلیون دالر به شش ونیم میلیون دالر در سال های ۲۰۱۹ و ۲۰۲۰ کاهش دهد.

هند پس از توافق هسته‌ای بین ایران و قدرت ها ی جهانی ( برجام)، که به لغو یا تعلیق تحریم‌های مرتبط با برنامه هسته‌ای ایران منجر شد، ۵۰۰ میلیون دالر برای تسریع توسعه بندر چابهار اختصاص داد. به گزارش روزنامه "د هندو (The Hindu ) "منابع در وزارت خارجه هند گفته اند که دلیل این کاهش "تعدیل

«

بودجه تخصیص داده شده براساس ارزیابی واقع‌بینانه از میزان مصرف در سال مالی است".

جان آقا نوید، سخنگوی اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان با ابراز نگرانی از این تصمیم هند به بی‌بی‌سی گفت که پس از مسدود شدن فضای پاکستان بر روی پروازهای افغانستان، کابل چشم امید به تجارت با هند را از مسیر چابهار داشت و کاهش بودجه توسعه‌ای چابهار می تواند بر مبادلات تجاری میان افغانستان و هند تأثیرگذار باشد.

در سال های گذشته ارزش صادرات افغانستان از مسیر دهلیزهای هوایی به هند به ده‌ها میلیون دالر رسید، ولی امسال با بسته شدن فضای پاکستان شرکت های هوایی هندی پروازهای خود را به کابل متوقف کردند. صادرات افغانستان از بندر چابهار به هند بیشتر میوه‌های خشک و تازه، سنگ مرمر و گیاهان طبی است، اما صادرات هند که حدود هفتاد درصد این داد و ستد را تشکیل می‌دهد، بیشتر کالاهای الکترونیکی است.

دولت هند قبلا اعلام کرده بود که تلاش دارد تا بندر چابهار ایران تا سال ۲۰۱۹ به بهره‌برداری سپرده شود. به گزارش ایرنا، خبرگزاری رسمی ایران، گوام دارمندرا، سفیر هند در تهران به تازگی از بندر چابهار دیدار کرده و وعده داده که " تلاش می‌شود تا حجم مبادله کالاهای اساسی از طریق بندر چابهار بین ایران و هند افزایش یابد و اقلام دیگری نیز به این کالاها اضافه شود".

او بتاریخ ۱۶ سرطان در دیدار با مدیران اداره کُل بنادر و دریانوردی سیستان و بلوچستان و بازدید از بندر چابهار گفته: "بندر چابهار سمبل جدید ارتباط ایران و هند است و همه تلاش‌ها برای توسعه روابط اقتصادی و تجاری فراهم است تا "اگزیم بانک" در ایران فعال شود".

ایران بارها از افغانستان نیز خواسته است که نمایندگی بانک‌های خود را در بندر چابهار باز کند. با توجه به اینکه امریکا، تحریم همه جانبه بر ایران وضع کرده، ولی بندر چابهار از این تحریم‌ها مستثنی شده است.

مقام‌های ایرانی بندر چابهار را تنها بندر اقیانوسی ایران می‌دانند. بندری که قرار است هند را از طریق ایران به افغانستان و بعد به کشورهای آسیای میانه و روسیه وصل کند. چابهار از زمانی که به عنوان راه بدیل به جای بنادر پاکستان برای افغانستان مطرح شد، راهی طولانی را نپیموده است. بندری که قرار است به قطب اقتصادی تبدیل شود، به نظر کارشناسان اقتصادی هنوز از رونق لازم برخوردار نیست.

هند که کمک کننده عمده برای اجرای طرح‌های توسعه ای در این بندرمحسوب می شود، در سال‌های گذشته با احتیاط دست به کیسه شده است. اعتبار مالی که تهران انتظارش را داشت، در موعد لازم تامین نشده است؛ ولی کاهش یک سوم از بودجه توسعه این بندر می‌تواند مشکلات زیادی را برای توسعه چابهار ایجاد کند.

سرچینې:

1. https://www.pashtovoa.com/author/24163.html لیکنه:ممتاز بهیر **چنګابښ** ۰۶، ۱۳۹۸
2. http://www.bbc.com/persian/business-48922316 تاریخ نشر: ۱۸ سرطان ۱۳۹۸

# د دوامداره پراختیایي هدفونو په اړه سمینار جوړ شو




کابل، د ۱۳۹۸ کال د چنگاښ د میاشتې ۲۲ مه – د افغانستان بانک د کنفرانسونو په خونه کې د دوامداره پراختیایي هدفونو یا SDGs په اړه د دې بانک کارکوونکو ته د اقتصاد وزارت د پالیسو د عمومي ریاست له لوري معلوماتي پریزنټېشن وړاندې شو.

په دې سمینار کې چې د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي یې پرانیسته وکړه، نوموړي د دوامداره پراختیایي هدفونو په ارزښت خبرې وکړې او دا پروګرام یې د افغانستان لپاره ډېر ګټور وباله.

ښاغلي رحیمي یادونه وکړه چې که څه هم د دوامداره پراختیاپروګرام د پلي کېدو په وړاندې خنډونه شتون لري، خو په کار ده چې په دې برخه کې د پرمختګ لپاره ګډې هڅې وشي، ترڅو ټاکل شوې موخې په وخت سره تر لاسه شي.

د یادونې وړ ده چې د دوامداره پراختیا پروګرام ۱۷ هدفونه لري چې د بېوزلۍ او لوږې له منځه وړل، روغتیا، زدکړه، پاکو اوبو او انرژۍ ته لاسرسی، د جنسیتي مساوات رامنځته کول، اقتصادي پرمختګ او نور په کې شامل دي.

ورپسې د اقتصاد وزارت د پالیسۍ د عمومي ریاست مشر ښاغلي نبي سروش د دې پروګرام په اړه د یو معلوماتي پریزنټېشن په وړاندې کولو سره ګډونوالو ته هر اړخیز معلومات ورکړل او یادونه یې وکړه، چې د ادارو تر منځ ګډه همکاري یې موخوته نږدې کولای شي.

د نوموړي په خبره، په هېواد کې د دې پروګرام د پلي کېدو لپاره د ستراتیژیک چوکاټ شتون اړین دی، ترڅو وکولای شي د هغې په وسیله دا ډول ملي پروګرامونه په ښه ډول پلي شي.

د یادونې وړ ده چې دوامداره پراختیایي هدفونه یا SDGs د ملګرو ملتونو د سازمان ګډ پروګرام دی چې په ۲۰۱۶ میلادي کال کې تصویب شوي او د ۱۵ کلونو په ترڅ کې به پلي شي.

پاتې د نه وي چې په دې سمینار کې د اجرائیه ریاست د دوامداره پراختیا پروګرام له پلي کېدو د څارنې د برخې استازي ښاغلي سلیمان عبادي هم ګډون کړی وو او د دې پروژو په پلي کېدو او همغږۍ کې یې د افغانستان بانک له همکارۍ مننه وکړه او په دې برخه کې د لا زیاتو همکاریو غوښتونکی شو.

# د اسلامي بانکدارۍ عمومي آمر معرفي شو



کابل، د ۱۳۹۸ کال د چنګاښ ۱۸ مه – ښاغلی ډاکتر محمد یوسف سلیم د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ د عمومي آمریت د آمر په توګه معرفي شو.

په هغه غونډه کې چې د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي په مشرۍ جوړه شوې وه، ښاغلی ډاکتر سلیم د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ د عمومي آمریت د آمر په توګه د دې بانک کارکوونکو ته ور وپېژندل شو.

ښاغلي محمد قسیم رحیمي یادونه وکړه چې ډاکتر محمد یوسف سلیم د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې پراخه تجربه لري او هیله مندي یې وښوده چې د افغانستان بانک ته راتګ به یې په هېواد کې د اسلامي بانکدارۍ په دودولو کې رغنده رول ولوبوي.

ورپسې د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ نوي ټاکل شوي آمر د اسلامي بانکدارۍ په ارزښت خبرې وکړې او یادونه یې وکړه، چې له نړیوالو اسلامي بانکونو او مالي ادارو سره ښې اړیکې لري او د همدې اړیکو پر بنسټ به د اسلامي بانکدارۍ د دودولو لپاره کار وکړي.

د اسلامي بانکدارۍ نوي ټاکل شوي آمر د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه، چې د اسلامي بانکدارۍ سیستم رغونې ته اړتیا لري او په کار ده چې په دې برخه کې ذهنیت جوړونه وشي، ترڅو خلک په ډاډه سره وکولای شي خپلې پیسې په بانکونو کې وساتي.

د یادونې وړ ده چې ښاغلي محمد یوسف سلیم په مالیزیا هېواد کې د دوکتورا تر کچې زده کړې کړې دي او د یاد هېواد په بېلابېلو پوهنتونو کې یې د اسلامي بانکدارۍ او سوداګریزو قوانینو په برخه کې د استاد په توګه دندې تر سره کړې دي، نوموړی د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې زیات شمېر کتابونه او مقالې لري چې دا مهال په نړیوالو پوهنتونو کې تدریسېږي.

پاتې د نه وي چې د نوموړي د پېژندنې په غونډه کې د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو آمرینو او مرستیالانو هم ګډون کړی وو.

د اسلامي بانکدارۍ آمریت د افغانستان بانک په چوکاټ کې په دې وروستیو کې رامنځته شوی چې په هېواد کې د اسلامي بانکدارۍ د دودولو لپاره کار کوي.

# برنامه آگاهی دهی توسعه سیستم پرداخت الکترونیکی در زون شمال راه اندازی گردید

د افغانستان بانک به ادامه راه اندازی برنامه های آگاهی دهی و آموزشی پیرامون توسعه سیستم پرداخت الکترونیکی افغانستان، این بار ورکشاپ آموزشی را بتاریخ ۰۶ سرطان ۱۳۹۸ برای تعداد کثیری از تجار، نمایندگان بانک های تجارتی، گمرکات و اتاق تجارت در شهر مزار شریف، راه اندازی نمود.




در ابتدای این برنامه آموزشی محترم عطا خان اورتاق آمر زون شمال د افغانستان بانک صحبت نموده گفت که با استفاده از سهولت های فراهم شده با تطبیق طرح توسعه سیستم پرداخت الکترونیکی، تاجران میتوانند دیون مالیاتی خویش را به زوترین فرصت ممکن با استفاد از تکنالوژی بدون محدویت جغرافیایی و در هر یک از بانک های تجارتی واریز نموده و شامل عواید دولت نمایند.

متعاقباً، محترم شفیق الله شفق معاون آمریت عمومی عملیات بانکی د افغانستان بانک ضمن ارایه پرزینتیشنی در مورد اهمیت سیستم پرداخت در نظام مالی، در زمینه اهداف، مزایا و نتایج بدست آمده از توسعه سیستم پرداخت الکترونیکی که باعث سهولت و سرعت در اجرای معاملات گردیده و نیز سبب مصونیت جان و مال تاجران میگردد، مفصلاً معلومات ارائه نمود.

در ادامه، محترم فرید سکندری مدیر توسعه پلان و پالیسی آمریت تادیات د افغانستان بانک در مورد تاریخچه و توسعه سیستم های تادیات و مراحل معاملات در سیستم پرداخت و محترم حمید سلطانی نماینده وزارت محترم مالیه پیرامون طی مراحل گمرکی به اشتراک کننده گان معلومات دادند.

# د مالي پانګونې بسته به ۱.۵ میلیون دوامداره دندې رامنځته کړي

د افغان حکومت له لوري د بیکارۍ د له منځه وړلو او په مرسته کوونکو هېوادونو له مالي ترلتیا د کمولو، له بیوزلۍ سره د مبارزې او د پایدارې اقتصادي ودې په موخه د مالي پانګونې د بستې او د اقتصادي ځان بسیاینې د پالیسۍ رامنځته کول به د یوې ښې اقتصادي راتلونکې په لور ګامونه پورته کړي.

د معلوماتو پر بنسټ، افغان دولت د داسې یوې اقتصادي بستې پالیسي جوړه کړې ده چې په پلي کېدو سره به یې په کور دننه په بېلابېلو برخو کې ۱.۵ میلیون دوامدارې دندې رامنځته شي او په لومړیو ۵ کلونو کې به هر کال ۲.۶۵ سلنه کورني ناخالص عواید زیات کړي.

د دې بستې په پلي کېدو سره به په بېلابېلو اقتصادي سکتورونو کې د کارموندنې پروګرامونه پلي شي، د بېوزلۍ کچه به راټیټه کړي، اقتصادي وده او د بهرنیو مرسته کوونکو د مالي ملاتړ په ترلتیا کې به د لیدنې وړ کموالی راولي.

دا بسته چې ۸.۷ میلیارد ډالرو ته اړتیا لري، ۶۶ سلنه پانګه اچونه یې د کرنې او اوبولګولو په برخه کې، ۱۵ سلنه یې د برېښنا د بېخبنسټونو په برخه کې او ۱۹ سلنه پانګه اچونه یې د ښار جوړونې برخې ته ځانګړې شوې ده.

د معلوماتو پر بنسټ، د دې پانګې اچونې ۶۷ سلنه د حکومت له لوري او پاتې ۳۳ سلنه یې د خصوصي سکټور له لوري تر سره کېږي چې په نهو کلونو کې به بشپړه شي. د یادونې وړ ده چې د دې پانګې اچونې ۸۰ سلنه یې د دولت له لوري په لومړیو ۵ کلونو کې تر سره کېږي.

**په کرنه، برېښنا او ښارجوړونه کې ولې د پانګې اچول مهم دي؟**

افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی او نږدې ۸۰ سلنه وګړي یې په کرنه بوخت دي د کرنې او اوبو لګونې په برخه کې ۶۶ سلنه پانګه اچونه به یې د اقتصادي ځان بسیاینې په لور ستر ګام شي.

د کرنیز سکټور پیاوړتیا نه یوازې دا چې افغانستان په دې برخه کې په ځان بسیا کوي، بلکې بهرنیو هېوادونو ته د دې هېواد د کرنیزو توکو د صادراتو لپاره لار پرانیزي چې دا چاره په مستقیم ډول افغانستان ته د اسعارو د راتګ لار پرانیزي.

د کرنې په برخه کې پانګه اچونه د نورو برخو په پرتله کمه رېسک منونکې ده او په دې برخه کې د افغان دولت له لوري پانګه اچونه به له ځان سره زیاتې لاسته راوړنې ولري.

همدارنګه په کرنه کې د پانګې اچونه نه یوازې دا چې نوې دندې زېږوي، بلکې په کور د ننه د خوراکي او غیر خوراکي کرنیزو توکو په بیو کې د لیدنې وړ کموالي د راتګ سبب کېږي چې دا چاره د بېوزله کورنیو په اقتصادي وضعیت کې مثبت بدلون رامنځته کوي.

بلخوا په دې مالي بسته کې یادونه شوې ده چې ۱۵ سلنه پانګه اچونه به یې د برېښنا د بېخبنسټونو په رامنځته کولو کېږي. برېښنا چې د هر انسان غوښتنه ده او دا غوښتنه د هرې ورځې په تېرېدو سره مخ په زیاتېدو ده تمه ده چې په هېواد کې په دې برخه کې په پانګې اچونې سره به افغانستان د برېښنا په برخه کې له واردوونکي په صادروونکي هېواد بدل شي.

افغانستان د هغو هېوادونو له ډلې دی چې

زياتې رواني اوبه لري او دا اوبه دې هېواد ته دا وړتيا ورکوي چې دلته د برېښنا بندونه جوړ او په کور دننه د اړتيا وړ برېښنا توليد شي.

که څه هم په تېرو څو لسيزو کې په هېواد کې رواني جګړې په دې برخه کې پرمختګونه په ټپه درولي وو، خو په دې وروستيو کې د دې چارې د پرمختګ لپاره يو شمېر ګامونه پورته شوي دي او تمه ده چې تر راتلونکو څو کلونو به افغانستان د برېښنا په برخه کې په ځان بسيا او نورو هېوادونو ته د برېښنا د صادراتو وړتيا پيدا کړي.

د انرژۍ يا برېښنا په برخه کې پانګه اچونه د عوايدو تر ټولو غوره سرچينه ده، دا مهال په نړيواله کچه په هرو لسو هغو کمپنيو کې چې په کلني ډول زيات عوايد تر لاسه کوي ۹ هغه يې د انرژۍ د توليد کمپنۍ دي او د ټولې نړۍ ۱۰ سلنه ناخالص توليد د انرژۍ له کبله لاسته راځي.

د انرژۍ د نړيوال سازمان د معلوماتو پر بنسټ تر راتلونکي ۲۰۳۵ ميلادي کال پورې به په نړۍ کې د انرژۍ د توليد غوښتنې ۳۰ سلنه نورې هم لوړې شي او داسې اټکل کيږي چې تر راتلونکو دوو لسيزو به په دې برخه کې ۳۷ تريليون ډالره پانګه اچونه وشي.

په افغانستان کې هم په دې برخه کې زيات فرصتونه موجود دي چې په دې برخه کې د دولت او خصوصي سکټور له لوري پانګه اچونه به په مالي او پرمختيايي برخه کې د ليدني وړ لاسته راوړنې له ځان سره ولري.

په ورته مهال د دولت له لوري په ياده اقتصادي بسته کې د ښارجوړونې لپاره ۱۹ سلنه پانګه اچونه ځانګړې شوې ده. په هېواد کې د معياري ښارونو او ښارګوټو رامنځته کېدل سوداګريزې چارې آسانوي، د دندو د پيدا کېدو لامل کيږي او د خلکو په اقتصادي وضعيت کې د مثبت بدلون راتګ ته لاره هواروي.

په تېرو کلونو کې د هېواد په ډېرى سيمو کې د ماسټر پلان خلاف ودانۍ او ښارګوټي جوړ شوي چې دې چارې نه يوازې د ښارونو نظم خراب کړى، بلکې د ټرافيکي بندښتونو او نورو ستونزو د رامنځته کېدو لپاره يې لار پرانيستې ده. دا چې دا مهال د پخوا په پرتله د خلکو له لوري په ښارونو کې د ژوند کولو غوښتنې زياتې شوې دي د افغان دولت او خصوصي سکټور له لوري د ښار جوړونې په برخو کې د پانګې اچونې به له ځان سره زياتې لاسته راوړنې ولري او دا پانګه اچونه به د هېواد د اقتصادي وضعيت په ښه والي مثبت رول ولوبوي.

د دولت او خصوصي سکټور له لوري د دا ډول ګډو پروژو پلي کول په هېواد کې د بيکارۍ په له منځه وړلو کې مثبت رول لوبوي او په کور دننه د په ځان بسيايني په لور د مثبتو ګامونو د پورته کېدو لامل کيږي.●

**سرچينې:**


1. خپرونکي اداره: د ماليې وزارت ويبپاڼه
د خپرېدو نېټه: يکشنبه ۱۳۹۸/۳/۱۹ –۱۳:۲۸
https://mof.gov.af/ps/د-ماليې-وزارت-سرپرست-د-افغانستان-حکومت-د-مرسته-کوونکو-مالي-وابستګۍ-د-کمولو،-له-بيوزلۍ-سره-د-مبارزې
2. https://www.harvestreturns.com/blog/2017/6/13/5-ways-to-make-money-with-investments-in-agriculture-1
3. https://www.dummies.com/personal-finance/investing/commodities/10-reasons-to-invest-in-energy/
10 REASONS TO INVEST IN ENERGY
By Nick Hodge, Jeff Siegel, Christian DeHaemer, Keith Kohl

# د مرمرو د ډبرې صادرات اقتصادي پرمختګ رامنځته کوي

د حیرتان بندر له لارې تر منځنۍ آسیا او بیا تر چین هېواد، د افغانستان د سوداګرۍ غځېدل به د دې هېواد په صادراتو کې د لیدنې وړ زیاتوالی رامنځته کړي.
د معلوماتو له مخې دا مهال افغان دولت په دې کار کوي چې د یاد بندر له لارې چین او د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د مرمرو ډبرې او تالک واستوي.
چین او د منځنۍ آسیا هېوادونه د مرمرو ډبرې ته په پراخه کچه اړتیا لري او دې اړتیا ته په کتلو سره به له یادو هېوادونو سره د افغانستان سوداګري وده وکړي او په صادراتي بیلانس کې مثبت بدلون رامنځته شي.
د افغانستان د محصولاتو لپاره د حیرتان بندر د منځنۍ آسیا هېوادونو او بیا تر چین پورې د ځمکې له لارې تر ټولو لنډه لاره ده، چې له دې لارې افغان سوداګریز توکي نسبت نورو لارو ته په کم مصرف سره رسېدلای شي.
د معلوماتو پر بنسټ، افغانستان ۳۵ ډوله د مرمرو ډبرې لري چې په ۴۵ بېلابېلو رنګونو کې پیدا کېږي. دا مهال ۲۵ کمپنۍ د دې ډبرو په استخراج او ۱۰۷ نورې یې د پروسس په برخه کې په کار بوختې دي چې دې چارې زیات شمېر افغانانو ته د دندو زمینې هم برابرې کړې دي.
د یادونې وړ ده چې د لومړنیو څېړنو له مخې، افغانستان د ۱۵۰ میلیارد ډالرو په ارزښت د مرمرو ډبرې کانونه لري چې په را سپړل کېدو سره به یې د دې هېواد په اقتصادي وضعیت او سوداګرۍ کې لوی بدلون راشي.
تر بهرنیو هېوادونو د دې ډبرو صادرات نه یوازې دا چې هېواد ته د اسعارو د راتګ لاره هواروي، بلکې په کور دننه د ډبرو راسپړنه او نورې چارې یې نوې دندې زېږوي چې نېغ په نېغه د هېوادوالو د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې هم مرسته کوي.
د مرمرو ډبره له ډېرې پخوا زمانې را په دېخوا په افغانستان او د نړۍ په نورو هېوادونو کې د ودانیو د ښکلا او نورو برخو په رغونه او تزئین کې کارول کېږي او په نړیواله کچه ډېر پېرودونکي لري.
پاتې د نه وي چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د مرمر ډبرو کانونه شته چې تر ټولو زیاته برخه یې د ننګرهار په خوګیانو، د هرات په چشت، سمنګان، میدان وردګ، سالنګ، کابل، تره خېل، کاریز میر، کندهار، هلمند او یو شمېر نورو سیمو کې شتون لري.
تمه ده چې د حیرتان بندر له لارې د منځنۍ آسیا هېوادونو او چین ته به د مرمرو ډبرې په صادرولو سره د نورو »

افغان توکو د صادراتو لپاره هم لاره هواره شي.

د افغانستان او ازبکستان تر منځ پوله د آمو سيند دی چې دا دواړه هېوادونه يې له يو بل بېل کړي دي. په ۱۹۸۲ میلادي کال کې د دې دواړو هېوادونو تر منځ د آمو په سيند د پخواني شوروي اتحاد له لوري د دوستۍ پل جوړ شوی دی چې دې پل افغانستان له منځنۍ آسيا، روسيې او چين سره نښلولی دی او له يادو هېوادونو سره يې د افغانستان د سوداګرۍ لپاره لاره هواره کړې ده.

په تېرو څو لسيزو جګړو کې دا لاره د افغانستان د سوداګريزو لارو تر ټولو امنه لاره شمېرل شوې ده او د هېڅ يو سياسي کړکېچ په مهال يې خپل اقتصادي ارزښت له لاسه نه دی ورکړی.

دا بندر اوس هم فعال دی او هڅې روانې دي چې له دې لارې د منځنۍ آسيا له هېوادونو او چين ته د مرمرو ډبرې د صادراتو لړۍ پيل شي. تمه ده چې په فعالېدو سره به يې د افغانستان په سوداګرۍ کې د ليدنې وړ پرمختګ رامنځته شي.

د بهرنيو هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو زياتول د هېواد د اقتصادي وضعيت د غوړېدو لامل کېږي او په کور دننه د صنعت غوړېدو او توليد ته لاره هواروي.

افغان دولت په دې وروستيو کلونو کې له ګاونډيو او نورو هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو د پراختيا په پار له يو شمېر هېوادونو سره ځمکنۍ لارې او هوايي دهليزونه رامنځته کړي دي، چې دې چارې د افغانستان د سوداګرۍ په برخه کې د پخوا په پرتله زيات پرمختګونه راوستي دي.

د بهرنيو هېوادونو سره د سوداګريزو لارو رامنځته کول د هېواد د صادراتي بيلانس په رامنځته کېدو کې لويه ونډه لري. د يادونې وړ ده چې دا مهال په هېواد کې د شېرخان، حيرتان، آقينې، تورغونډۍ، اسلام قلعې، سپين بولدک، تورخم او غلام جان د رسمي بندرونو ترڅنګ د بدخشان - تاجکستان، نورستان - پاکستان، کنړ ـ پاکستان، فراه ـ ايران او نيمروز ـ ايران ترمنځ نور غير رسمي لارې هم فعالې دي چې له دې لارو هم کله نا کله د بندرونو په ډول کار اخيستل کېږي.

پاتې د نه وي چې دا مهال افغانستان له يو شمېر نړيوالو هېوادونو سره تر ۹ زيات هوايي دهلېزونه هم رامنځته کړي دي، چې يادو دهلېزونو هم د افغانستان د صادراتي بيلانس په لوړولو کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته کړی دی.

سرچينې:

1. https://mof.gov.af/ps/د-حيرتان-بندر-له-لارې-منځنۍ-اسيا-او-چين-هيواد-ته-د-تالک-او-مرمرينو-ډبرو-د-ليږدولو-لپاره-چمتووالی
2. https://af.shafaqna.com/FA/268469
3. ارگ: ارزش ذخاير مرمر افغانستان بالاتر از ۱۵۰ ميليارد دالر است

# نیروی انسانی، یکی از عوامل تولید

یکی از مهمترین عوامل تولید، نیروی انسانی است که از طریق مشارکت در تولید چه به لحاظ فزیکی، فکری، مدیریتی ویا با استفاده از تکنالوژی، نقش نهایت سازنده ای را در تولید ایفا می نماید و به جرأت می توان گفت که از طریق برنامه ریزی صحیح و متکی بر اصول و ضوابط علمی، نیروی انسانی کار، می تواند اوضاع اقتصادی مطلوبی را برای خود شرکت تولیدی که کار می نماید و در کُل به اقتصاد کشور فراهم سازد.

اینکه کارگران چگونه تصمیم می گیرند تا شغلی را انتخاب کنند و انگیزه های آنان در گزینش شغل های مورد علاقهٔ شان چیست یا هم مزد و اشتغال شان چگونه تعیین می گردد؟ از جمله مواردی اند که در قالب مفاهیم عرضهٔ کار و تقاضا برای نیروی انسانی در اقتصاد مورد بررسی، تجزیه و تحلیل قرار می گیرند.

کارگر در تصمیم های خود، آزادانه عمل می کند و تحت تأثیر هیچ نوع فشار قرار ندارد. بنا برین بر اساس پایه های اصول فکری، باید فضای خاص کاری را برای آنها فراهم کرد، زیرا فرد در بازار کار بر اساس انتخاب خود عمل می نماید، کارگر نا گزیر است تا اقدام به انتخاب نموده و در برطرف کردن بخشی از خواسته های خود با توجه به مزدی که بدست می آورند، آنهایی را برگزینند که مطلوبیت وی را به حد اکثر می رساند. مطلوبیت در حقیقت یک امر ذهنی بوده که شامل کالا های مادی نمی گردد و بازار کار را از دیگر بازار ها مانند بازار محصولات و ... متمایز می سازد، که به ویژگیهای آن در ادامه بطور خلاصه اشاره می گردد.

بعضی از خصوصیت های بازار های کار

1. از اصطلاح بازار کار می توان هزاران نوع بازار متناسب با انواع گوناگون کار را برداشت کرد، که از شغل های ساده نظیر کار در رستورانت ها تا عملیات جراحی در شفاخانه و سایر عرصه های زندگی بخش وسیعی از بازار کار می باشند. از نظر جغرافیایی می توان از بازار های محلی مانند کارگران ساده، از نیروی کار ملی مانند استادان پوهنتون ها و از نیروی کار بین المللی مانند داکتران بخش های صحی و دانشمندان یاد آوری نمود. در بازار کار، جابجایی نیروی کار در یک نهاد امکان پذیر است، اما این جابجایی ها به سهولت و بدون هزینه انجام نمی شود، موانع در این مسیر به حدی فراوان است که گاهی تغییر فرد در بازار کار را غیر ممکن می سازد.
2. بسیاری از محصولات بخصوص مواد اولیه کاملاً استندرد شده اند، اما کارگران استندرد شده نمی باشند، کالا ها و محصولات عمدتاً از لحاظ خصوصیات فزیکی با هم مشابه می باشند، اما ظرفیت کاری کارگران از هم تا حدی ناشناخته است. کارگران از لحاظ سن، استعداد، توانایی، مهارت، جنس و ... با هم متفاوت اند و هر کدام ازین خصوصیت ها بر کار آرایی تولیدی کارگران نهایت مؤثر است. کارفرمایان هم در موقع انتخاب کارگران به عوامل فوق توجه کافی نموده و تلاش می نمایند تا بهترین کارگران را از طریق آزمون های ورودی با میزان تحصیلات آنان انتخاب کنند، در چنین حالت هم احتمال رخ دادن اشتباهات در انتخاب وجود دارد که عمدتاً پس از یک دورهٔ آزمایشی انتخاب نهایی صورت می گیرد.
3. تداوم یا استمرار اشتغال یکی از

»

ویژگیهای مهم بازار کار شمرده می شود، زیرا کارگر معمولاً انتظار دارد که با رعایت وضعیت کاری برای مدت دایم استخدام شود، این امر هم برای کار گر و هم برای کار فرما اقتصادی تمام می شود. کارگر برای تصدی شغل، آموزش می بیند، همچنان در جریان کار تجربه حاصل می نماید و کارفرما برای ارتقای ظرفیت مهارت کارگر سرمایه گذاری می نماید، این یک حقیقت مسلم است که در صورت ترک و یا قطع ارتباط کارگر این سرمایه گذاری از بین می رود. حتی اگر کسیکه عین مهارت را دارد، بجای فردی که با تصدی قطع رابطه نموده مقرر شود، این تقرری باعث گسستن روابط گروهی میان سایر کارگران میشود، زیرا آنها در عمل تجربه کرده اند که چگونه بطور هماهنگ با یک دیگر به شکل گروهی فعالیت کنند. آنها همچنان استمرار شغل را بر تغییر شغل ترجیح می دهند، زیرا افزایش سالهای کار باعث منافع رخصتی های طولانی، احساس امنیت بیشتر و حقوق باز نشستگی بالا تر را با خود دارد.

۴. حضور کارگر همراه با کارش در بازار کار، ما می دانیم که در بازار کار بر خلاف بازار محصولات، کارگر بطور فزیکی همراه کارش در بازار کار حاضر می باشد. در بازار کار پیچیدگی اشتغال موضوع جستجوی شغل را با مشکلاتی مواجه ساخته است، زیرا بعد از استخدام زمانی که کارگر عملاً به کار آغاز مینماید، برایش ثابت می گردد که انتخاب او غلط بوده، شغل را ترک و خود را بیکار نموده و مجدداً در جستجوی شغل جدید می شود. همچنان کار فرما نیز بر اساس اطلاعات محدودی که دارد، کار گری را که تحصیل کرده است، استخدام می نماید، اما در دورهٔ آزمایشی برایش ثابت میگردد که کارگر استخدام شده مورد نظرش نیست، بناً درین عرصه ناقص بودن اطلاعات هم از طرف کارگر و هم از طرف کار فرما به مشاهده می رسد.

۵. کار گر در چانه زنی ها، موضع ضعیف دارد. یکی دیگر از ویژگیهای بازار کار، موضع ضعیف کار گر در بازار کار می باشد، که بازار کار را از دیگر بازار ها مجزا می سازد، عموماً تعداد زیادی از کارگران در جستجوی شغل می باشند، اما جاهای خالی موجود برای اشتغال آنها مناسب نیست، کارگری که دانش محدود تری دارد به دنبال کاری است که هر چند بد است، سریع تر به دست آید، اما کار فرما می تواند منتظر بماند و از میان داو طلبان زیادی که در جستجوی شغل می باشند کار گر مناسب را برای خود انتخاب نماید، بناً گفته می توانیم که کار فرما در تنظیم وضعیت اشتغال موضع و موقف قوی تری نسبت به کارگر دارد.

منابع:


1. *https://www.investopedia.com/terms/l/**labor-market**.asp*
25 Jun 2019 **...** The **labor market** refers to the supply and demand for **labor** in which ... participation rates, total income and gross domestic **product** (GDP).
وضع منظومة العمل الإنساني ALNAP –

2. *https://www.alnap.org/system/files/content/.../sohs2015-arabic.pdf*
المزمنة، بالإضافة إلى أدوارها الأقل تحديدا في الدعوة الإنسانية ودعم القدرة على .... مي . خيارات التغيير. صمم تقرير "وضع منظومة العمل الإنساني" ليكون وصفيا وليس توجيها.

3. *https://motamem.org/*
انواع بازارها :بازار هدف، بازار آماده، بازار بالقوه، بازار تحت نفوذ متمم



# اطلاعیه!

**به اطلاع هموطنان عزیز رسانیده میشود که انجام معاملات مالی با فراهم کنندگان خدمات پولی (حواله داران) و صرافان غیر مجُوز بر علاوه اینکه اعتبار قانونی ندارد، دارای مصونیت قانونی نیز نمی باشد.**

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۴۵، سرطان ۱۳۹۸







## صدمین سالروز استرداد استقلال افغانستان مبارک!

## استقلال از افتخارات ملی کشور ماست

## پول افغانی هم نشانۀ افتخار، اقتدار و هویت ملی ماست

